# په اسلامي



# نظام کې

# ودانيز پر مختګ

لیکوال:
داکتر مهندس حشمت الله اتمر
میاشت [illegible] / کال [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ليکي پوهه:

**سرليک:** په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ
**ليکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ايډېټور:**
**د پښتنې ډيزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** مياشت - لړم / کال - ۱۴۰۳
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښناليک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پخښنتئ .......................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحيم............................................ ۲**
**ليکي پوهه: ......................................................... ۳**
**لړليک ................................................................ ٤**
**تراڼ (پيل، شروع، بريد) ......................................... ۹**
**د يادښتونو له پاره: .............................................. ۱۱**
**لنډه کتنه ........................................................... ۱۲**
**ودانيز پيل: ........................................................ ۱۳**
**نهه ګنبده جومات په افغانستان کې:............................ ۳٦**
**د جام منار په افغانستان کې:.................................... ٤۱**
**د جوماتو د جوړولو او بناء فضيلت: ......................... ۵۹**
**د مسلمانانو د نفوس پر بنسټ د هېوادونو ليست: ............ ۸۵**
**عربي ژبي هېوادونه ............................................. ۹۸**
**۱. اردن:............................................................ ۹۸**
**۲- الجزاير: ...................................................... ۱۰۲**
**۳. بحرين:......................................................... ۱۰۸**
**۴. تونس: ......................................................... ۱۱۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. جيبوتی:.................................................. ۱۱۵
۶- سعودی عربستان: .......................................... ۱۱۸
۷- سودان: .................................................. ۱۲۲
۸- سوريه: .................................................. ۱۲۵
۹- سوماليا (سومالي) ......................................... ۱۳۰
۱۰. عراق:................................................... ۱۳۴
۱۱. عربي متحده امارات: ..................................... ۱۴۰
۱۲. عمان:.................................................. ۱۴۹
۱۳. فلسطين: ............................................... ۱۵۲
۱۴. قطر:................................................... ۱۵۶
۱۵. د قمر جزيره (کومر جزيرې) ................................ ۱۶۰
۱۶. کويت:.................................................. ۱۶۲
۱۷. لبنان:.................................................. ۱۶۵
۱۸. لويديځه صحرا:........................................... ۱۷۱
۱۹. ليبيا (ليبی) ............................................. ۱۷۳
۲۰. مراکش:................................................. ۱۷۶
۲۱. مصر: .................................................. ۱۷۹
۲۲. موريتانيا:................................................ ۱۸۴
۲۳. يمن:................................................... ۱۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په منځني ختيځ کې (غير عرب هېوادونه) ..................... ۱۹۲**
**۲۴. ايران: ..................................................... ۱۹۲**
**۲۵. ترکيه: ...................................................... ۱۹۶**
**په منځنۍ او سويلي اسيا کې........................................ ۲۰۰**
**۲۶. ازبکستان: .................................................. ۲۰۰**
**۲۷. افغانستان: ................................................ ۲۰۳**
**۲۸. بنګلاديش: ................................................. ۲۰۸**
**۲۹. پاکستان: ................................................... ۲۱۱**
**۳۰. تاجکستان: ................................................ ۲۱۳**
**۳۱. ترکمنستان: .............................................. ۲۱۶**
**۳۲. قرغزستان: ................................................ ۲۲۰**
**۳۳. قزاقستان: ................................................ ۲۲۵**
**۳۴. مالديو: ..................................................... ۲۲۷**
**سويل ختيځه آسيا.................................................. ۲۳۲**
**۳۵. اندونيزيا (اندونيزي) ....................................... ۲۳۲**
**۳۶. برونئی: ..................................................... ۲۳۷**
**۳۷. ماليزيا (ماليزي) ............................................ ۲۴۰**
**په قفقاز کې.......................................................... ۲۴۶**
**۳۸. آذربايجان: ................................................. ۲۴۶**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۹. داغستان ....................................................... ۲۴۹**

**۴۰. چچنستان (چچن): ........................................... ۲۵۱**

**په اروپا کې.............................................................. ۲۵۳**

**۴۱. البانيا (الباني):.............................................. ۲۵۳**

**۴۲. بوسنيا او هرزګونيا (هرزګوني): ........................... ۲۵۷**

**۴۳. د کريميا ټاپو وزمه:.......................................... ۲۶۱**

**۴۴. کوزوو: ........................................................ ۲۶۶**

**په غير عرب افريقا کې.................................................. ۲۷۰**

**۴۵. ارتيره: ......................................................... ۲۷۰**

**۴۶. بور کينا فاسو .................................................. ۲۷۳**

**۴۷. چاد: ............................................................ ۲۷۷**

**۴۸. عاج ساحل:.................................................... ۲۸۰**

**۴۹. سنګال:......................................................... ۲۸۴**

**۵۰. سيرالئون: ..................................................... ۲۸۸**

**۵۱. کوکوس (کلينګ) نيمه وچې: ................................ ۲۹۲**

**۵۲. ګامبيا:......................................................... ۲۹۴**

**۵۳. ګينه: ........................................................... ۲۹۶**

**۵۴. ګينه بيسائو (ګيني – بېساو) ................................ ۳۰۱**

**۵۵. مالی: ........................................................... ۳۰۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۶. مایوت:........................................................... ۳۰۸
۵۷. نیجر:........................................................... ۳۱۰
۵۸. نجیر(نجیریه): ........................................................... ۳۱۲
پښتو په پښتو تخنیکي ویکیو چوپړي یا تخنیکی وییزپرمه... ۳۱۷
پایله ........................................................... ۳٦٤
سرچینه ........................................................... ۳٦۵
د چاپ شویو کتابونو لېست ........................................................... ۳۷۷
د کار لاندې کتابونو لېست........................................................... ۳۸۰
د امکان او وخت په صورت کې........................................................... ۳۸۱
د پختنۍ څټ ........................................................... ۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تراڼ (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود ماڼۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې په اسلامې نظام کې ودانيز پرمختګ په هکله معلومات او څېړنې د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره شريکه کړم. زما د کتابونو مېنه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ

.........................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادښت:**

د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

**د يادښتونو له پاره:**

۱- ..................................................................................

۲- ..................................................................................

۳- ..................................................................................

۴- ..................................................................................

۵- ..................................................................................

۶- ..................................................................................

۷- ..................................................................................

۸- ..................................................................................

۹- ..................................................................................

۱۰- ..................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه کتنه**

الله تعالی فرمايي:

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ۝ [سُوَرَةُ المَائدة : ٤٤]

ژباړه:
کوم خلك چې د الله له نازل کړي قانون سره سمې فيصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي.
که څه هم دلته د کفر حکم په عمومي توګه نه دی او علماء د کفر حکم هغه وخت کوي چې د وخت حاکم نور قوانين تر اسلامي قوانينو اوچت (بهتره) وبولي او په نه تطبيقولو کې يې کوم عذر، ونه لري.

بل ځای فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا۝ [سُوَرَةُ النِّسَاء : ٦٥]

ژباړه:
اي محمده (ص)!
ستا په رب قسم چې دوی هيڅکله مؤمنان کېدای نه شي، تر څو چې په خپل منځي شخړو کې تا فيصله کوونکی ونه مني.

بيا چې ته څه فيصله وکړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو کې هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پايه يې ومني.
که څه هم په عمومي توګه د الهي احکامو تطبيق د وخت حاکم ته سپارل شوی دي، الله تعالی فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَنۢ بَعْضِ مَآ أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ [ سُوْرَةُ المَائدة : ٤٩]

ژباړه:
(نو [اې محمده (ص)]!
ته د الله له نازل کړي قانون سره سمه د دې خلکو د چارو فيصله وکړه، او د هغو د خواهشاتو پيروي مه کوه.
پام کوه چې دا خلك تا په فتنه کې وانه چوي، يوه ذره هم له هغه هدايت څخه وا نه ړوې چې خدای تا ته درلېږلی دی)
دلته نبي عليه الصلاة والسلام ته امر د يوه حاکم او نبي په حيث شوی دی چې د شرعي احکامو په تطبيق کې يوه ذره هم سستي ونه کړي.

د حاکم يا امير د ټاکلو او نصبولو د ټکلارې په هکله دومره واضح او صريح نصوص نشته لکه څومره چې د احکامو د تطبيق په اړه راغلي، که څه هم د حاکم يا امير ټاکل يوه الهي فريضه ده څکه چې پرته له حاکم او امير څخه الهي احکام د تطبيق وړ نه دي.
دا چې نړۍ په هر ډګر کې د پر مختګ په لور روانه ده، او اولسونه د ځانونو له پاره د داسې نظامونو په لټه کې دي چې د دوی د بقاء او پرمختګ ضمانت وکړی شي او هم خپل ارزښتونه وساتلی شي.

**ودانيز پيل:**
په اسلامي معمارۍ کې د اسلام اړوند ودانيو د معمارۍ طرزونه (سټايلونه) چې د اسلام له پيل څخه تر نن ورځې پورې د معمارۍ ټول ديني او غير مذهبي سټايلونه شامل (د ننه) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چې قبا ته ورسېد، هغه سیمه چې له مدینې څخه درې میله لرې ده او هلته ته یې د قبیلې د مشر شیخ عمر بن عوف په کور کې تشریف و فرمایلو.
دوشنبه، سه شنبه، چهار شنبه او پنج شنبه په قبا کې پاتې شو او هلته یې لمړی کار، د جومات جوړول و چې په خپله یې د هغه بنسټ کېښود، او د جومات په جوړولو کې یې برخه واخیسته، دا جومات د اسلام په تاریخ کې لومړی جومات بلل کېږي.



د قبا جومات پخوانی انځور

له قبا جومات نه وروسته، حضرت محمد (ص) په مدینې منوره د خپل کور په سیمه کې یو بل جومات هم جوړ کړ، چې اوس د نبوي جومات په نامه یادېږي.
حضرت محمد (ص) په خپله د جومات په جوړولو کې برخه، ونډه اخیستې وه او د اسلامي ښار د مرکزي نقطې په توګه د جومات د مفکورې په وړاندې کولو کې یې مرسته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جومات په هماغه ځای کې جوړ شوی چې د پيغمبر(ص) اوښ په ځمکه په ګونډو شو(کښيناست).
د دې ځمکې خاوندان دوې يتيم ماشومان وو، چې له هغه څخه ځمکه اخيستل ( پيرودل) شوې وه، رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله د هغه په جوړولو کې، کار کاوه او د ختو د راوړلو په وخت کې يې له ځانه سره داسې ويل:

اللهم لاعيش إلاعيش الآخرة
فاغفر للأنصار والمهاجرة

دا په دې مانا (معنی) ده:
ربه!
"ژوند بل څه نه دی، مګر د آخرت ژوند.
نو انصارو او مهاجرينو ته ببنښه وکړه".
بيا يې وويل:

هذا الحمال لا حمال خيبر
هذا أبر ربنا وأطهر

دا په دې مانا (معنی) ده:
دا مېوې د خيبر د مېوو په څېر نه دي.
اې زموږ خدايه!
دا ځل، دا غوره او پاک دی.
د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبرې د صحابه کرامو له پاره د زړونو ځواک و، دوی يې تر دې حده خوشاله او فعاله کړل چې يو تن يې په ځواب کې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لئن قعدنا والنبي يعمل
لذلك منا العمل المضلل
دا په دې مانا ده:
"که موږ ناست يو او پيغمبر کار کوي، دا زموږ له پاره ناخوښ کار دی".
په هغه ځمکه کې چې د جومات د جوړولو له پاره ټاکل شوې وه، د مشرکانو هديره او کنډوالې، د خرما څو بوټي او يوه غټه ونه وه.
رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبرونو د ړنګولو امر وکړ او کنډوالې يې برابرې کړې، د خرما ونې پرې کړل شوې او پرې شوې ونې يې د قبلې په لور يو د بل په سر کېښودې.
هغه وخت هم قبله بيت المقدس وه.
دوی د جومات شاوخوا په ډېرو کار وکړ، د جومات ديوالونه يې له ختو او اومه ( خامو ) خښتو جوړ کړل، د جومات چت يې په تنګو او د کجورې په لرګيو، ځمکه او داخلی پوړ(غولی) يې په شګو پوښلی دی .
د مسجد د قبلې له اړخه د ديوال اوږدوالی۱۰۰( سل ) متره و، مقابل لوري او دوه اړخونه يې تقريبا د ودانۍ د بنسټ په اندازه و،
د جومات تر څنګ يې د ختو څو کوټې جوړې کړې وې او د هغوی چتونه يې په تنګو او د کجور له لرګيو پوښلي ول.
د نبوي جومات د عبادت ځای، مدرسه اوهم دارالشوری (د مشورې ځای) وه.
د پيغمبراکرم (ص) جومات ځينې ځانګړتياوې درلودې، چې اوس هم په جوماتونو کې عامې دي، لکه د لمانځه د ځای مخې ته د تاخچې جوړول، چې د محراب په نامه يادېږي او د پوړيو جوړول، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منبر په نامه يادېږي، له جومات سره د لوی انګړ جوړول، چې له هغه وخت راهيسې په جوماتونو کې هم عام دي.




د نبوي جومات پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نبوي جومات اندازې په لاندې ډول وې:**

۱ . اوږد والی ۳۵/۶۲ متره

۲ . لنډ والی ۳۰/۵ متره

۳ . اوچت والی ۳٫۶ متره

دا جومات په هغه وخت کې درې دروازې درلودې:

۱ . باب الغرب

۲ . باب الشمال

۳ . باب الجبرئل



د نبوی جومات انځور له موزیم څخه

دا جومات په بیلا بیلو وختونو کې د اړتیا په وخت کې پراخ شوی دی، دا پراخوالی د لمړي ځل له پاره د حضرت محمد (ص) په ژوندون کې پراخ شوی دی.

بیا وروسته د نورو خلافت او شاهانو په وخت کې پراخ او جوړ شوی دی.،، (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library





په لمړيو ورځو کې د بې بيانو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نبوي جومات اوسنی انځور



د نبوی جومات اوسنی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ

.....................................................................



د نبوی جومات اوسنی انځور

ځرنګه چې پوهېږو د اسلام دين د مدينې منوره په محدوده کې پاتې نه شو، لمړی مکې اوبيا وروسته مسلمانانو دين د پراختيا په هکله جهاد پيل کړ او نوروهېوادونه ته يې مخه کړه.
هرې منطقې او هېوادنو چې به يې نيول(فتح كول) لمړی به يې هلته د جومات جوړول پيل کړ، بيا وروسته به د نورو ودانيو لکه:
ديني مدرسو، کاروان سرايونو، حمامونو او کورونو جوړل پيلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لرغوني حلب جومات انځور په سوريه کې



د اموي جومات انځور په سوريه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د حضرت علي (رض) جومات انځور په بصره کې (کال ۱۹۱۶ع)



د حضرت علی (رض) جومات انځور، چې د بصره جومات په نامه مشهوره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوې لرغوني جومات انځور په افريقايي هېواد(غنا هېواد) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوې لرغوني جومات انځور په افريقايي هېواد کې



د يوې لرغوني جومات انځور په افريقايي هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





ترټولو مشهور جومات چې په ځانګړي ډول د دې معمارۍ له پاره پيژندل شوی، په مالي هېواد کې د جيني جومات دی



په نړۍ کې د ختو ترټولو لوی جوړښت (د جنه جومات)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ختو جومات انځور په افریقایي مسلمان هېواد کې



د ختو جومات انځور په افریقایي مسلمان هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې



د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې



د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې



د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ابن طولان جومات انځور په قاهره کې



د پخواني جومات انځور د يمن په ثنا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د پخواني صالح جومات انځور په يمن کې



د سمرا جومات او منار انځور، په عراق کې

(c) ketabton.com: The Digital Library






د سمرا جومات  او منار انځور، په عراق کې

همدا راز مسلمانانو د خپلو فتوحاتو کې د جومات تر څنګ د منارو جوړولو چی د خلفاې راشدین په وخت کې د جوماتونو ترڅنګ روا ج پیدا کړ، نقل کول او ډیر ښکلی منارونه به یې له محلي موادو څخه جوړول چې ډیری نښانې او آثار یې تر اوسه پوری هم  په ځینو هېوادنو لکه:
عراق، افغانستان، ایران او ازبکستان هېوادونو کي د جوماتونو خوا او یا هم نږدی جوماتونو ته جوړې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مالوي تاو راتاو (مار پيچه) منار هوايي ليد انځور(سامرا جومات)

(c) ketabton.com: The Digital Library





مالوي تاو راتاو (مار پيچه) منار مخامخ ليد انځور (سامرا جومات)

(c) ketabton.com: The Digital Library





مالوي تاو راتاو (مار پیچه) منار مخامخ لید انځور (سامرا جومات)

**نهه ګنبده جومات په افغانستان کې:**

,, دا په افغانستان کې یو له سترو او مشهورو جوماتونو څخه دی چې په نهمه پېړۍ پورې اړه لري.

دا جومات د افغانستان یو له مهمو تاریخي اثارو څخه دی چې د بلخ د سویل په دولس کیلومترۍ کې موقعیت لري.

دا جومات په بیلابیلو نومونو پیژندل شوی چې په لاندې ډول یې یادولای شو:

- د خواجه پیاده جومات
- د خواجه سرګردان جومات
- د نهه ګنبدونو جومات

د پورته یاد شوی جومات چې ځینې برخې یې په اوسني عصر کې ساتل شوي دي.

دا تاریخي اثار د افغان حکومت تر ساتنې لاندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد شوی جومات يو تاريخي اثر دی چې د معمارئ لوړ ارزښتونه، لوی بنسټونه لري چې د شګو ډېرو سره د آرشيف په واسطه نښلول شوي او ځانګړي سينګارونه لري.
ځېرنو ښودلې چې په بنسټونو، آرشيفونو، چتونو کې د جيوميټري، رنګونو په بڼه ډېری سينګارونه د هغه وخت د ماهرو معمارانو له خوا کارول شوي دي.



د نهه ګنبده جومات انځور، په مزار ښار کې



د نهه ګنبده جومات انځور په مزار ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جومات داخلي اندازې (ابعاد )١٩,٥ x ٢٠ متره دی، د هر ګنبد قطر ٤,١٠ متره او د هرې ستنې (اډې، بنسټ، پايې) قطر ١,٥٦ متره دی.
دا جومات د معمارۍ د اصولو، مناسب تناسب، د ځانګړي هنري جوړښت او په مخ کې د کارول شوي زينت په پام کې نيولو سره جوړ شوی دی.
پورتنی جومات ختيځ او لويديځ معمارۍ هنرد پرمختګ ښکارندويي کوي.
نهه ګنبد جومات د افغانستان د لرغونو اثارو په منځ کې يوه له خورا ښکلي او په زړه پورې معمارۍ څخه دی.
په داسې حال کې چې مخ ته ولاړ شئ او د تاريخ، رنګ او رسم کلونه تېر کړئ!
نن ورځ، د دې زړه راښکونکي معمارۍ لويه برخه له لاسه ورکړې ده. خو د دې کار په پاتې شونو کې د هنر، مهارت او وړتيا روحيه لا هم ليدل کې دی شي.

د دغه جومات نهه ګنبدونه پر شپږو لويو ستنو(بنستونو) اېښودل شوي دي. په اوس وخت کې، د ګنبد هيڅ اغيز(اثر) پاتې نه دی، مګر د شپږو ستنو څخه څلور يې لا تر اوسه ولاړې دي.

ابن بطوطه چې د نړۍ يو له مشهورو سياحانو څخه دی، د نهه ګنبد جومات په ښکلا کې د هسپانيا په ګراناډا کې د الحمرا جومات ته ورته ګڼي. د دې ودانۍ خوندوره معماري، دوديز او زوړ ساختماني ستايل خورا په زړه پورې دی. له نېکه مرغه، د دغه جومات د بيا رغاونې او رغولو له پاره لازم تدابير نيول شوي دي.،، (٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نهه ګنبده جومات انځور په مزار ښار کې



د نهه ګنبده جومات انځور په مزار ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نهه ګنبده جومات انځور په مزار ښار کې



د نهه ګنبده جومات انځور په مزار ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جام منار په افغانستان کې:**

,, جام منار د غور ولایت په غرنیو سیمو کې د شهرک له سیمې څخه په ٦٢ کیلومترۍ کې د جام په نوم کلي کې شتون لري، هغه ځای چې د جام سیند له سوېل څخه شمال ته د هریرود سیند ته بهېږي او د دغو دواړو په سنګم کې موقعیت لري.

دا منار په ۱۲(دولسمه) پېړۍ کې جوړ شوی او ۶۵ متره لوړوالی لري او په ۲۰۰۲ کال کې د یونیسکو نړیوال میراث مرکز د نړۍ د کلتوري میراثونو په لیست کې د دې منار د ثبتولو غوښتنه وکړه.

دا ودانۍ د هند په نوي ډیلي کې له قطب منار وروسته په نړۍ کې د خښو تر ټولو لوړ منار دی.

د جام پخوانۍ او تاریخي منار له منځه تلو په حال کې دي. د دې مرکز مشر فرانسیسکو باندرین د جام منار په اړه و ویل:

دا منار "شاید یو له غیر معمولي معماري جوړښتونو څخه وي او په نړۍ کې د خښتو ترټولو پخوانۍ پاتې منار دی".

یونسکو وایي:

دغه ستر منار د جام منار ته څېرمه په سیند کې د اوبو د جریان له امله له منځه ځي.

**ځای (شتون، موقعیت)**

د جام منار د غوریانو د سلطنت په پلازمینه فیروزکوه کې موقعیت لري.

دا ګردی منار په اتوګونیز بنسټ کې ایښودل شوی دی. دا دوه لرګي بالکوني لري او په سر کې یې یو لالټین دی. ظاهري بڼه یې د غزني منارونو ته ډېره نږدې ده چې د دریم مسعود لخوا جوړ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جام منار کې ۶۰ منارونه شامل دي چې په منځنۍ اسيا، ايران او افغانستان کې د ۱۱مې او ۱۳مې پېړۍ تر منځ جوړ شوي دي. د هغو له جملې څخه په زاړه اورګان کې د قلغو تيمور منار هم شته چې تر اوسه يې له هغه څخه لوړ نه دی.. .

د جام سيمې شاوخوا لرغونې منظرې، چې په کې د ماڼۍ کنډوالې، يوه کلا، د لوښو بټۍ او د يهودانو هديرې شاملې دي، کې دای شي د فيروزکوه د ورک شوي ښار د پاتې شونو استازيتوب وکړي.

د سايټ په شاوخوا کې د چور سوراخونو تحليل، د لوړ ريزولوشن سپوږمکۍ عکسونه او د ګوګل نقشه ډاټا د دې لامل شوې چې د جام منار شاوخوا د غوريانو د دوبي پلازمينې اندازه معلومه کړي چې شاوخوا ۱۹,۵ هکتاره ده.
د جام لرغونی ځای په ۲۰۰۲ کال کې د افغانستان د لومړي نړيوال ميراث ځای په توګه وپېژندل شو. همدارنګه د منار د ساتنې د نا مناسب حالت او هلته د لوټمارۍ د پايلو له امله، دا د يونسکو د نړيوال ميراث په نوملړ کې د خطر سره مخ شو.

**د جام منار نږدې ليد**
د يونسکو د اسنادو له مخې دغه منار په ۱۱۹۴ کال کې د سلطان غياث الدين غوري د واکمنۍ پر مهال جوړ شوی و. د افغانستان د کلتوري ميراثونو د ساتنې ټولنې (سپيک) د څېړونو په شپږمه ګڼه کې راغلي چې د دې منار جوړوونکی د "علي" په نوم يو معمار و چې نوم يې په دوو ټکو کې ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه منار او د شاه غياث الدين غوري نوم هم د جام منار په څنډه کې ليدل کېږي.

**معماری**
د جام اوږده منار سلندر ډوله دی او د ۹ مترو قطر او ۶۳,۳ متره لوړوالی سره په اتوګون اساس جوړ شوی. د دې منار بنسټ له ځمکې څخه نږدې دوه متره لوړ دی او منار ته د ننوتلو له پاره يوه کوچنۍ دروازه شته.

د جام منار د جوړولو طريقه او بڼه د هغه منار په شان ګڼل کېږي چې د غزنوي دريم مسعود په غزني ښار کې جوړه کړې وه.
همدارنګه د هند په ډيلي ښار کې د قطب منار په نامه يوه منار هم شته چې بې له شکه د جام منار څخه الهام اخيستل شوی دی.
د لرغون پېژندنې څېړنو ښودلې چې د جام منار په شاوخوا کې د پوځي کلاو کنډکونه، يوه ماڼۍ، د تيراکوټا جارونه او د يهودانو هديرې موندل شوې، او په دې توګه دوی شايد د جام منار د ليدو له پاره کارولی دی.
ځينې لرغون پوهان په دې باور دي چې په هند کې د قطب منار د ديارلسمې پېړۍ په لومړيو کې د جام منار په الهام سره جوړ شوی چې لوړوالی يې ۷۳ متره دی.،، (۲) ، (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار انځور په غور ولايت کې



جام د منار انځور په غور ولايت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ

.....................................................................



جام د منار انځور په غور ولايت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library






جام منار د برش (قطع) انځور په غور ولايت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار رسامي انځور په غور ولايت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار عربي ليکنې انځور



جام د منار سينګار انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار سينګار انځور



جام د منار هوايي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار سينګار پورتنۍ برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار سينګارمنځنی برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار سينګار ښکتنۍ برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار مخامخ لید انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جام د منار دننه (داخلي) زينو د لارې انځور



جام د منار دننه (داخلي) زينو د لارې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د بی بی خانم جومات انځور په سمرقند کې



د کلان (کالان) منار انځور په ازبکستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کلان (کالان) منار انځور په ازبکستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کلان (کالان) منار انځور په ازبکستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کلان (کالان) منار انځور په ازبکستان کې



د کلان (کالان) منار انځور په ازبکستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جوماتو د جوړولو او بناء فضيلت:**

د جومات جوړولو په اړه قرآنکريم او سنتو کې ډير فضائل راغلي دي چې يوه برخه يې په لاندې ډول ده.

قال الله تبارک وتعالى:

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ. [التوبة:١٨]

**ژباړه :**

يقيناً د الله جل جلا له جوماتونه هغه څوک ابادوي چې پر الله جل جلا له او آخرت ايمان ولري، لمونځ کوي، زکات ورکوي او له الله جل جلا له پرته (له بل چا څخه) نه ويريږي نو هيله ده چې دغسې کسان د سمې لارې موندونکي وي.

همدارنګه د جومات جوړول، ترميمول، هغه که په لږو پيسو وي يا ډير صدقه جاريه ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ، وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ، وَمُصْحَفًا وَرَّثَهُ، أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ، أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ، أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ، أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ يَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ (رواه ابن ماجه و حسنه الألباني).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:**
هغه اعمال او نېکی چې د هغه ثواب د مرګ وروسته مؤمن ته رسېږي دا دي:
نافع علم ، صالح اولاد، د قرآنکريم مصحف، د جومات جوړول، د مسافر د پاره د استوګنې ځای، وياله يا کوهي جوړول، او هغه صدقه چې د روغتيا او ژوند په وخت کې يې ادا کړې وي د هغې به هم د مرګ نه وروسته اجر او ثواب مومي.

,, بيا دا ودانيزې چارې د کورونو جوړولو اړخ ته و غزېدې چې په لنډه توګه کولای شو د بي بيانو د کورونو يا د حضرت محمد (ص) ښځو د کورونو نوم واخلو چې ډېری يې اوس شتون نه لری او يوازې د حضرت بې بې عايشه (رض) کور چې په هغه کې د حضرت محمد (ص)، حضرت ابو بکر صديق (رض) او حضرت عمر فاروق (رض) مقبرې دي، چې تر اوسه هم شتون لري.

دا کورونه د نبوي جومات په شاو خوا کې جوړ شوي وو چې هر کور يوه لويه کوټه ۶،۵ متره اوږدوالی ۳،۵ متره سور(بر) او ۳،۵ متره لوړوالی يې درلود چې له اومه خښتو او ختو نه جوړ شوي ول، هرې کوټې (خونې) شمال خواته يوه کوچنۍ کړکۍ چې اوچت والی (جګ والی) يې ۰،۵ متره، سور(بر) يې هم ۰،۵ متره او د ځمکې (د کوټې د غولي) نه ۲،۸ متره اوچته وه، د هوا د تبادلې له پاره په پام کې نيول شوی وه.

دا کوټې دالان يا کوچني غولي خوا ته لويه کړکۍ درلوده چی د ځمکې نه ۰،۵ متره اوچته او اندازې يې په لاندې توګه وې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لوړ والی یا جګ والی ۱،۵ متره
- سور (بر) ۱،۵ متره

دا کړۍ د روښنايي، لمر وړانګو، د هوا د تبادلې او د کوټې نه د دالان د لید په اړه په پام کې نیول شوې وه.
دا کوټې یوازې یوه دروازه درلوده چې اندازې یې داسې وي.

- سور(بر) ۱ متر
- لوړوالی ۲ متره




د کورنو پلان ( ګرافیکي لید)

همدا راز د دالان یا غولي اوږدوالی یې ۵ متره، سور یې ۳،۵ متره او لوړ والی یې ۳،۵ متره اوپرته له بامه وه، بام دریمه برخه یې د خرما په لرګیو پوښول شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د بي بيانو د کورونو ليد ( درې اړخيز ليد)




ت – ت :توته

(c) ketabton.com: The Digital Library






د پوښښ دستک بندۍ پلان

دا دالان يوه دروازه په منځ (وسط) کې درلوده چې اندازې يې د لويې کوټې سره سمون خوري، او همدا راز يې يوه کړکۍ چې هغه هم په منځ او مخامخ دروازې ته شتون درلود. [۱]



د کورونو مخامخ ليد ( درې اړخيز ليد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې مسلمانانو په اوومه او اتمه پيړۍ کې ډېرى خاورې (ملکونه) فتح کړل، د دې خلکو ځانګړتياوې، د اسلامي ويښتابه او روحي اغېزې په دې اثارو کې ليدونکې ته يو ډول يووالى ځرګند کړ.

دا ځايونه وروسته اسلامي معمارۍ د اسلامي خطاطۍ او ځانګړې هندسي (جيوميټريک) ډيزاينونو په کارولو سره د شکلونو او سينګارونو په جوړولو کې ځانګړې، ځانګړتياوې رامينځته کړې.

همدارنګه نوې معماري عناصر لکه استوانه (سلنډر) مناروونه، مهمې آرشيفونه، مقران، سلمې او ملتې فوليل آرشيف د اسلامي معمارۍ نوښتونه دي.

په اسلامي معمارۍ کې، د ودانيو تر ټولو مهمه برخه ده او د ودانۍ د سطحو سينګار او بشپړول يې تر ټولو زړه راښکونکي عنصر ګڼل کيږي.

د مثال په توګه، د مقرن کار د سينګار کولو يوه لاره ده .

په اسلامي معمارۍ کې د لويو يا عامه ودانيو له پاره د ودانيو اصلي ډولونه عبارت دي له:

جومات، مقبرې، ماڼۍ او کلا.

د اسلامي معمارۍ اصلي اصول له دې ځلورو ودانيو څخه اخيستل شوي او په نورو ودانيو کې کارول شوي لکه:

عامه حمامونه، حوض او د کور په جوړښت کې. ،،(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د پخواني کاروان سرای انځور



د پخواني کاروان سرای انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د وربښم د لارې پخوانی کاروان سرای انځور چې د لمنځه تلو په حال کې دی (بدخشان ولایت)



په سعودي عربستان کې د یوه حمام انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوه پخواني حمام انځور د سورې په هېواد کې



د يوه پخواني حمام انځور د عراق په هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يو پخواني حمام انځور د مصر په هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوه پخواني حمام انځور زمونږ (افغانستان) په هېواد کې



د يوه پخواني حمام انځور د ايران په هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library




که چېرې مونږ ټوله نړۍ ته نظر واچوو، لیدی شو د جوماتونو جوړول نه په اسلامی نړۍ په سترګو کېږي، بلکه د مسلمانانو فتوحاتو او یا د مسلمانان په مهاجرت سره غیر اسلامي نړۍ کې لیدی شو چې د جومات تر خوا، اودس خونې، حمامونه، داسې نورې ودانۍ جوړې شوې او مسلمانان ترې ګټه اخلي.

د مثال په توګه:



د ښکلی جومات انځور په فدراتیفه روسیه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ښکلي جومات انځور په فدراتيفه روسيه



د ښکلي جومات انځور په فدراتيفه روسيه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ښکلي جومات انځور په فدراتیفه روسیه



د ښکلي جومات انځور په فدراتیفه روسیه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډهلی ښار جامع جومات



د ډهلی ښار جامع جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډهلی ښار جامع جومات



د ډهلی ښار جامع جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library





د قطب منار انځور په ډهلي کې (هند هېواد)



د قطب منار انځور په ډهلي کې (هند هېواد)

(c) ketabton.com: The Digital Library






د يوه ښکلي جومات انځور په چين کې



د يوه ښکلي جومات انځور په چين کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوه ښکلي جومات انځور په سنګاپور کې



د يوه ښکلي جومات انځور په سنګاپور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د افغانانو(اديلا) جومات په آسترليا کې



د يوه ښکلي جومات انځور په آسترليا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوه ښکلي جومات انځور په امريکا کې



د يوه ښکلي جومات انځور په امريکا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوه ښکلي جومات انځور په جرمني کې



د يوه ښکلي جومات انځور په جرمني کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د قرطبه جومات انځور په اسپانې (هسپانيه) کې



د قرطبه جومات انځور په اسپانې (هسپانيه) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوه ښکلي جومات انځور په هالند کې



د يوه ښکلي جومات انځور په هالند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د یوه ښکلي جومات انځور په سویدن کې



د یوه ښکلي جومات انځور په سویدن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library






د يوه ښکلي جومات انځور په فرانسه کې



د يوه ښکلي جومات انځور په فرانسه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مسلمانانو د نفوس پر بنسټ د هېوادونو لیست:**

,, اسلام په نړۍ کې له عیسویت وروسته د پیروانو د شمېر له پلوه دوهم دین دی. د ۲۰۱۵ کال د اټکل له مخې د سي آی اې انسائیکلوپیډیا د نړۍ ۲۴,۱٪ خلک مسلمانان دي اسلام په سویل لوېدیزه آسیا، شمالي او سهیل (افریقا) او په ځینو برخو کې اکثریت مذهب دی.

آسیا او افریقا لویه وچه په نړۍ کې د مسلمانانو د نفوس تر ټولو لویه سلنه (٪۵۲/۳۹) لري. کډوالې ټولنې د نړۍ په ځینو سیمو کې ژوند کوي. د بیلګې په توګه، په لوېدیځه اروپا کې، اسلام د سیمې د ټول نفوس ٦٪ سره له مسیحیت وروسته دویم دین دی.

د ۲۰۱۲ راپور له مخې، ٤٩ هېوادونه مسلمانان اکثریت لري، د نړۍ شاوخوا ٦٢٪ مسلمانان، چې د یو ملیارد نفوس سره برابر دي، په سویل او سویل ختیځ آسیا کې ژوند کوي. د نړۍ د مسلمانانو له جملې څخه پاکستان ١١,٠٪، هند ١٠,٩٪، بنګله دیش ٩,٢٪ نږدې ٢٠٪ مسلمانان په عربي هېوادونو کې ژوند کوي.
افریقا، مصر او نایجریا د مسلمانانو تر ټولو لوی نفوس لري.

د Pew Research Center د ۲۰۱۰ کال څېړنه د ۲۰۰۹ کال په ژمي کې خپره شوه.
دې څېړنې وښودله چې د سوریې په پرتله په لبنان او چین کې مسلمانان ډېر دي.
دا په ډاګه کوي چې اسلام به په ۲۰۷۵ میلادي کې د مذهبونو په مینځ کې، ترټولو پیروان ولري.،، (ویکي پیډیا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**منځپانګه:**

,, د جدول په لومړيو څلورو کالمونو کې ارقام د نړۍ د مسلمانانو د راتلونکي په اړه د Pew Research Center د راپور پراساس دی.

| شمېره | هېواد/ سيمه | مسلمان | د هېواد د ټول مسلمانان نفوس سلنه (٪) | د نړۍ د مسلمانانو د نفوس سلنه (٪). |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | افغانستان | ۳۸,۹۲۸,۳۴۶ | ۱۰۰ | ۲,۴ |
| ۲ | آلبانی | ۱,۸۷۹,۱۷۲ | ۵۸,۸ | ۰,۱ |
| ۳ | الجزاير | ۴۰,۴۰۰,۰۰۰ | ۹۹ >۹۸,۲ | ۲,۷ |
| ۴ | امريکايی ساموا | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۵ | آندورا | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۶ | آنګولا | ۹۰,۰۰۰ | ۱,۰ | ۰,۱< |
| ۷ | آنګويلا | ۱,۰۰۰< | ۰,۳ | ۰,۱< |
| ۸ | آنتيګوا او باربودا | ۱,۰۰۰< | ۰,۶ | ۰,۱< |
| ۹ | آرژانتين | ۷۸۴,۰۰۰ | ۲,۵ | ۰,۱< |
| ۱۰ | ارمنستان | ۱/۲< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۱ | آروبا | ۱,۰۰۰< | ۰,۴ | ۰,۱< |
| ۱۲ | استراليا | ۴۷۶,۲۹۱ | ۲,۲ | ۰,۱< |
| ۱۳ | اتريش | ۵۷۳,۸۷۶ | ۶,۸ | ۰,۱< |
| ۱۴ | آذربايجان جمهوريت | ۸,۷۹۵,۰۰۰ | ۹۸,۴ | ۰,۵ |
| ۱۵ | باهاما | ۱,۰۰۰< | ۰,۱ | ۰,۱< |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | بحرین | ۸۶۶,۸۸۸ | ۷۰,۲ | ۰,۱< |
| ۱۷ | بنګلادش | ۱۴۵,۶۰۷,۰۰۰ | ۸۶,۳ | ۹,۲ |
| ۱۸ | باربادوس | ۲,۰۰۰ | ۰,۹ | ۰,۱< |
| ۱۹ | بلاروس | ۱۹,۰۰۰ | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۲۰ | بلژیک | ۶۵۸,۴۶۳ | ۵,۹ | ۰,۱< |
| ۲۱ | بلیز | ۱,۰۰۰< | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۲۲ | بنین | ۲,۷۱۰,۰۰۰ | ۲۴,۵ | ۰,۱ |
| ۲۳ | برمودا | ۱,۰۰۰< | ۰,۸ | ۰,۱< |
| ۲۴ | د بوتان سلطنت | ۲,۰۰۰≤ | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۲۵ | بولیوی | ۲,۰۰۰ | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۲۶ | بوسنیا او هرزګوینا | ۱,۷۹۰,۴۵۴ | ۵۰,۷ | ۰,۱ |
| ۲۷ | بوتسوانا | ۸,۰۰۰ | ۰,۴ | ۰,۱< |
| ۲۸ | برزیل | ۲۰۴,۰۰۰ | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۲۹ | د برتانیا ورجن ټاپو | ۱,۰۰۰< | ۱,۲ | ۰,۱< |
| ۳۰ | برونئی | ۲۹۵,۰۰۰ | ۶۷ | ۰,۱< |
| ۳۱ | بلغارستان | ۵۷۷,۰۰۰ | ۷,۸ | ۰,۱< |
| ۳۲ | بورکینافاسو | ۱۱,۲۷۰,۰۰۰ | ۶۰,۵ | ۰,۶ |
| ۳۳ | برما (میانمار) | ۲,۲۳۷,۴۹۵ | ۲,۳ | ۰,۱ |
| ۳۴ | بروندی | ۲۵۰,۰۰۰ | ۲,۲ | ۰,۱< |
| ۳۵ | کامبوج | ۲۵۵,۰۰۰ | ۱,۶ | ۰,۱< |
| ۳۶ | کامرون | ۴,۹۴۰,۰۰۰ | ۲۰,۹ | ۰,۲ |
| ۲۷ | کانادا | ۱,۰۵۳,۹۴۵ | ۳,۲ـ۱,۹ | ۰,۱ |
| ۳۸ | کاپ ورد | ۱۰,۰۰۰ | ۲ | ۰,۱< |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۹ | کيمان ټاپوګان | <۱,۰۰۰ | ۰,۲ | <۰,۱ |
| ۴۰ | د مرکزي افريقا جمهوريت | ۴۰۳,۰۰۰ | ۱۵ | <۰,۱ |
| ۴۱ | چاد | ۷,۸۲۷,۶۵۳ | ۵۸ | ۰,۴ |
| ۴۲ | شيلی | ۲,۸۹۴ | ۰,۰۳ | <۰,۱ |
| ۴۳ | چين | ۲۲,۰۰۰,۰۰۰-<br>۵۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۱,۸ | ۱,۴ |
| ۴۴ | کوکوس (کلينګ) ټاپوګان | <۱,۰۰۰ | ۸۰ | <۰,۱ |
| ۴۵ | کلمبيا | ۴۰,۰۰۰ تا<br>۸۰,۰۰۰ | ۰,۲ | <۰,۱ |
| ۴۶ | کومور(قمر) | ۷۸۵,۰۰۰ | ۹۸,۳ | <۰,۱ |
| ۴۷ | کنګو | ۳,۶۴۸,۲۶۷ | ۵ | ۰,۱ |
| ۴۸ | کوک ټاپوګان | <۱,۰۰۰ | <۰,۱ | <۰,۱ |
| ۴۹ | کاستاريکا | <۱,۰۰۰ | <۰,۱ | <۰,۱ |
| ۵۰ | کرواسی | ۶۰,۰۰۰ | ۱,۴ | <۰,۱ |
| ۵۱ | کوبا | ۱۰,۰۰۰ | ۰,۱ | <۰,۱ |
| ۵۲ | قبرس | ۲۷۳,۰۰۰ | ۲۲,۷ | <۰,۱ |
| ۵۳ | چک جمهوريت | ۱۰,۵۰۰ | <۰,۱ | <۰,۱ |
| ۵۴ | دنمارک<br>(دانمارک) | ۲۳۰,۰۰۰ | ۴,۱ | <۰,۱ |
| ۵۵ | جيبوتي | ۸۵۳,۰۰۰ | ۹۷,۰ | ۰,۱ |
| ۵۶ | دومينيکا | <۱,۰۰۰ | ۰,۲ | <۰,۱ |
| ۵۷ | دومينيکا جمهوريت | ۲,۰۰۰ | <۰,۱ | <۰,۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۵۸ | اکوادور | ۲,۰۰۰ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۵۹ | مصر | ۷۳,۸۰۰,۰۰۰ | ۹۰ | ۴,۹ |
| ۶۰ | السالوادور | ۲,۰۰۰ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۶۱ | استوایی ګینه | ۲۸,۰۰۰ | ۴,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۶۲ | اریتره | ۱,۹۰۹,۰۰۰ | ۳۶,۶-۴۸-۵۰ | ۰,۱ |
| ۶۳ | استونیا(استونی) | ۱,۵۰۸ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۶۴ | ایتوپیا(اتیوپی) | ۲۵,۰۳۷,۶۴۶ | ۳۴ | ۱,۸ |
| ۶۵ | د فارو ټاپو | ‎<۱,۰۰۰ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۶۶ | فاکلنډ ټاپوګان | ‎<۱,۰۰۰ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۶۷ | د میکرونزیا فدرالي ایالتونه | ‎<۱,۰۰۰ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۶۸ | فیجی | ۵۴,۰۰۰ | ۶,۳ | ‎<۰,۱ |
| ۶۹ | فنلیند (فنلاند) | ۴۲,۰۰۰ | ۰,۸ | ‎<۰,۱ |
| ۷۰ | فرانسه | ۵,۶۲۱,۰۰۰ | ۷,۵ | ۰,۳ |
| ۷۱ | فرانسوي ګیانا | ۲,۰۰۰ | ۰,۹ | ‎<۰,۱ |
| ۷۲ | فرانسوي پولینیشیا | ‎<۱,۰۰۰ | ‎<۰,۱ | ‎<۰,۱ |
| ۷۳ | ګابون | ۱۴۵,۰۰۰ | ۹,۷ | ‎<۰,۱ |
| ۷۴ | ګامبیا | ۱,۶۶۹,۰۰۰ | ۹۵,۳ | ۰,۱ |
| ۷۵ | ګرجستان | ۴۴۲,۰۰۰ | ۱۰,۵ | ‎<۰,۱ |
| ۷۶ | آلمان (جرمني) | ۱,۶۰۰,۰۰۰-۴,۷۰۰,۰۰۰ | ۲,۰ - ۵,۷ | ۰,۲ |
| ۷۷ | غنا | ۴,۹۱۴,۰۰۰ | ۱۸ | ۰,۲ |
| ۷۸ | ګیبرالتر | ۱,۰۰۰ | ۴,۰ | ‎<۰,۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٧٩ | یونان | ٦١٠,٠٠٠ | ٥,٣ | <٠,١ |
| ٨٠ | گرینلند | <١,٠٠٠ | <٠,١ | <٠,١ |
| ٨١ | گریندادا | <١,٠٠٠ | ٠,٣ | <٠,١ |
| ٨٢ | گوادلوپ | ٢,٠٠٠ | ٠,۴ | <٠,١ |
| ٨٣ | گوام | <١,٠٠٠ | <٠,١ | <٠,١ |
| ٨۴ | گواتیمالا | ١,٠٠٠ | <٠,١ | <٠,١ |
| ٨٥ | گینه | ٨,٦٩٣,٠٠٠ | ٨۴,٢ | ٠,٥ |
| ٨٦ | گینه بیسائو | ٧٠٥,٠٠٠ | ٥٠ | <٠,١ |
| ٨٧ | گویان | ٥٥,٠٠٠ | ٧,٢ | <٠,١ |
| ٨٨ | هائی تی | ٢,٠٠٠ | <٠,١ | <٠,١ |
| ٨٩ | هندوراس | ١١,٠٠٠ | ٠,١ | <٠,١ |
| ٩٠ | هنگ کانگ | ٢٢٠,٠٠٠ | ٣,١ | <٠,١ |
| ٩١ | مجارستان | ٥,٥٧٩ | ٠,٣ | <٠,١ |
| ٩٢ | ایسلند | ١٣٠٠ | ۴/٠ | <٠,١ |
| ٩٣ | هند | ١٧٢,٠٠٠,٠٠٠ | ١۴,٢ | ٩,٦ |
| ٩۴ | اندونزیا | ٢٠۴,٨۴٧,٠٠٠ | ٨٧,٢ | ١٢,٧ |
| ٩٥ | ایران | ٧٩,۴۴٧,٠٠٠ | ٩٩,۴ | ۴,٦ |
| ٩٦ | عراق | ٣١,١٠٨,٠٠٠ | ٩٨,٩ | ١,٩ |
| ٩٧ | ایرلند | ٧٠,١٥٨ | ١,١ | <٠,١ |
| ٩٨ | د من ټاپو | <١,٠٠٠ | ٠,٢ | <٠,١ |
| ٩٩ | اسرائیل | ١,٢٨٧,٠٠٠ | ١٧,٧ | ٠,١ |
| ١٠٠ | ایتالیا | ٢,٢٢٠,٠٠٠ | ٣,٧ | ٠,١ |
| ١٠١ | د عاج ساحل | ٧,٩٦٠,٠٠٠ | ۴٠ | ٠,٥ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١٠٢ | جامائیکا | ١,٠٠٠ | ٠,١< | ٠,١< |
| ١٠٣ | جاپان (ژاپن) | ١٨٥,٠٠٠ | ٠,١ | ٠,١< |
| ١٠٤ | اردن | ٦,٣٩٧,٠٠٠ | ٩٣,٨ | ٠,٤ |
| ١٠٥ | قزاقستان | ٨,٨٨٧,٠٠٠ | ٧٠,٢ | ٠,٥ |
| ١٠٦ | کنیا | ٢,٨٦٨,٠٠٠ | ١٠ | ٠,٢ |
| ١٠٧ | کیریباتی | ١,٠٠٠< | ٠,١< | ٠,١< |
| ١٠٨ | کوزوو | ١,٥٨٤,٠٠٠ | ٩٥,٦ | ٠,١ |
| ١٠٩ | کویت | ٢,٦٣٦,٠٠٠ | ٧٤,١ | ٠,٢ |
| ١١٠ | قرقیزستان | ٤,٩٢٧,٠٠٠ | ٨٨,٨ | ٠,٣ |
| ١١١ | لائوس | ١,٠٠٠ | ٠,١< | ٠,١< |
| ١١٢ | لتونی | ٢,٠٠٠ | ٠,١ | ٠,١< |
| ١١٣ | لبنان | ٢,٥٤٢,٠٠٠ | ٥٩,٧ | ٠,٢ |
| ١١٤ | لسوتو | ١,٠٠٠ | ٠,١< | ٠,١< |
| ١١٥ | لیبریا | ٥٢٣,٠٠٠ | ١٢,٨ | ٠,١< |
| ١١٦ | لیبیا | ٦,٣٢٥,٠٠٠ | ٩٦,٦ | ٠,٤ |
| ١١٧ | لیختن اشتاین | ٢,٠٠٠ | ٤,٨ | ٠,١< |
| ١١٨ | لیتوانی | ٣,٠٠٠ | ٠,١ | ٠,١< |
| ١١٩ | لوکزامبورګ | ١١,٠٠٠ | ٢,٣ | ٠,١< |
| ١٢٠ | ماکائو | ١,٠٠٠< | ٠,١< | ٠,١< |
| ١٢١ | مقدونیه | ٥٠٠,٠٠٠ | ٣٣,٣ | ٠,١< |
| ١٢٢ | ماداګاسکار | ٢٢٠,٠٠٠ | ٧ | ٠,١< |
| ١٢٣ | مالاوی | ٢,٠١١,٠٠٠ | ١٢,٨ | ٠,١ |
| ١٢٤ | مالزی | ١٧,١٣٩,٠٠٠ | ٦١,٤ | ١,١ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲۵ | مالديو | ۳۰۹,۰۰۰ | ۱۰۰ | ۰,۱< |
| ۱۲۶ | مالی | ۱۵,۶۶۷,۷۰۴ | ۹۵ | ۰,۸ |
| ۱۲۷ | مالت | ۱,۰۰۰ | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۱۲۸ | مارشال ټاپوګان | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۲۹ | مارتينيک | ۱,۰۰۰< | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۱۳۰ | موريتانی | ۴,۱۷۱,۶۳۳ | ۱۰۰ | ۰,۲ |
| ۱۳۱ | موريس | ۲۳۰,۱۱۸ | ۱۷,۳ | ۰,۱< |
| ۱۳۲ | مايوت | ۱۹۷,۰۰۰ | ۹۸,۸ | ۰,۱< |
| ۱۳۳ | مکزيک (مکسيکو) | ۳,۷۰۰ - ۱۱۱,۰۰۰ | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۱۳۴ | مولداويا | ۱۵,۰۰۰ | ۰,۴ | ۰,۱< |
| ۱۳۵ | موناکو | ۱,۰۰۰< | ۰,۵ | ۰,۱< |
| ۱۳۶ | مغولستان (منګوليا) | ۲۰۰,۰۰۰ | ۶ | ۰,۱< |
| ۱۳۷ | مونته نګرو | ۱۱۸,۴۷۷ | ۱۹,۱۱ | ۰,۱< |
| ۱۳۸ | مونتسرات | ۱,۰۰۰< | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۱۳۹ | مراکش | ۳۲,۳۸۱,۰۰۰ | ۹۹ | ۲,۰ |
| ۱۴۰ | موزامبيک | ۵,۳۴۰,۰۰۰ | ۲۲,۸ | ۰,۳ |
| ۱۴۱ | ناميبيا | ۹,۰۰۰ | ۰,۴ | ۰,۱< |
| ۱۴۲ | نائورو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۴۳ | نيپال | ۱,۲۵۳,۰۰۰ | ۴,۲ | ۰,۱ |
| ۱۴۴ | هلند | ۱,۰۰/۸۲۵,۰۰۰ ۰,۰۰۰ | ٦-۵ | ۰,۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴۵ | آنتيل هلند | ۱,۰۰۰< | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۱۴۶ | نوې کاليډونيا | ۷,۰۰۰ | ۲,۸ | ۰,۱< |
| ۱۴۷ | نيو زيلند | ۴۱,۰۰۰ | ۰,۹ | ۰,۱< |
| ۱۴۸ | نيکاراګوئه | ۱,۰۰۰ | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۴۹ | نيجر | ۱۹,۵۰۲,۲۱۴ | ۹۸,۳ | ۱,۰ |
| ۱۵۰ | نيجريه | ۹۳,۸۳۹,۰۰۰ | ۵۰-۴۱ | ۴,۷ |
| ۱۵۱ | نيووی | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۵۲ | شمالي کوريا | ۳,۰۰۰ | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۱۵۳ | شمالي ماريانا ټاپوګان | ۱,۰۰۰< | ۰,۷ | ۰,۱< |
| ۱۵۴ | ناروې | ۱۶۳,۱۸۰ | ۳,۰ | ۰,۱< |
| ۱۵۵ | عمان | ۲,۵۴۷,۰۰۰ | ۸۷,۷ | ۰,۲ |
| ۱۵۶ | پاکستان | ۱۷۸,۰۰۰,۰۰۰ | ۹۶,۴ | ۱۱,۰ |
| ۱۵۷ | پالائو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۵۸ | فلسطيني سيمې | ۴,۲۹۸,۰۰۰ | ۹۷,۵ | ۰,۳ |
| ۱۵۹ | پاناما | ۲۵,۰۰۰ | ۰,۷ | ۰,۱< |
| ۱۶۰ | پاپوآګينه نو | ۲,۰۰۰ | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۶۱ | پاراګوئه | ۱,۰۰۰ | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۶۲ | پيرو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۶۳ | فيليپين | ۵,۸۹۶,۰۰۰ | ٤,٦ | ۰,۷ |
| ۱۶۴ | لهستان | ۲۰,۰۰۰ | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۱۶۵ | پرتګال | ۶۵,۰۰۰ | ۰,۶ | ۰,۱< |
| ۱۶۶ | پورتوريکو | ۱,۰۰۰ | ۰,۱< | ۰,۱< |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶۷ | قطر | ۱,۱۶۸,۰۰۰ | ۷۷,۵ | ۰,۱ |
| ۱۶۸ | د کنګوجمهوري | ۷۷,۷۳۶ | ۱,۶ | ۰,۱< |
| ۱۶۹ | رئونیون | ۳۵,۰۰۰ | ۴,۲ | ۰,۱< |
| ۱۷۰ | رومانیا(روماني) | ۷۳,۰۰۰ | ۰,۳ | ۰,۱< |
| ۱۷۱ | روسیه | ۹,۴۰۰,۰۰۰ | ۶,۵ | ۱,۰ |
| ۱۷۲ | روآندا | ۵۸۹,۴۲۹ | ۴,۸ | ۰,۱< |
| ۱۷۳ | سنت هلنا | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۷۴ | سنت کیتس او نویس | ۱,۰۰۰< | ۰,۳ | ۰,۱< |
| ۱۷۵ | سنت لوسیا | ۱,۰۰۰< | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۱۷۶ | سنت پیر او ماژلان | ۱,۰۰۰< | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۱۷۷ | سنت وینست او ګرنادین | ۲,۰۰۰ | ۱,۷ | ۰,۱< |
| ۱۷۸ | ساموا | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۷۹ | سان مارینو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۸۰ | سائوتوم او پرنسیپ | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۱۸۱ | سعودی عربستان | ۲۵,۴۹۳,۰۰۰ | ۹۷,۱ | ۱,۶ |
| ۱۸۲ | سنګال | ۱۴,۵۸۴,۹۳۱ | ۹۵,۹ | ۰,۸ |
| ۱۸۳ | صربستان | ۲۲۷,۰۰۰ | ۲,۸ | ۰,۱< |
| ۱۸۴ | سیشل | ۱,۰۰۰< | ۱,۱ | ۰,۱< |
| ۱۸۵ | سیرالئون | ۴,۱۷۱,۰۰۰ | ۷۱,۵ | ۰,۳ |
| ۱۸۶ | سنګاپور | ۷۲۱,۰۰۰ | ۱۴,۷ | ۰,۱< |
| ۱۸۷ | اسلوواکی | ۱۰,۸۶۶ | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۱۸۸ | اسلوونی | ۷۳,۵۶۸ | ۳,۶ | ۰,۱< |

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١٨٩ | سليمان ټاپوګان | ١,٠٠٠< | ٠,١< | ٠,١< |
| ١٩٠ | سومالی | ٩,٢٣١,٠٠٠ | ٩٨,٩ | ٠,٦ |
| ١٩١ | سويلي آفريقا | ٦٥٤,٠٦٤ | ١,٥ | ٠,١< |
| ١٩٢ | سويلي کوريا | ٣٥,٠٠٠ | ٠,١ | ٠,١< |
| ١٩٣ | سويلي سوډان | ٦١٠,٠٠٠ | ٦,٢ | ٠,١< |
| ١٩٤ | اسپانيا | ١,٨٨٧,٩٠٦ | ٤,١ | ٠,١ |
| ١٩٥ | سری لانکا | ١,٩٦٧,٢٢٧ | ٩,٧١ | ٠,١ |
| ١٩٦ | سودان | ٣٩,٠٢٧,٩٥٠ | ٩٧,٠ | ١,٩ |
| ١٩٧ | سورينام | ٨٤,٠٠٠ | ١٩,٦ | ٠,١< |
| ١٩٨ | سوازيلند | ١٢٩,٢٣٠ | ١٠ | ٠,١< |
| ١٩٩ | سويدن | ٤٥٠,٠٠٠– ٥٠٠,٠٠٠ | ٥ | ٠,١< |
| ٢٠٠ | سوئيس | ٤٠٠,٠٠٠ | ٥ | ٠,١< |
| ٢٠١ | سوريه | ٢٠,٨٩٥,٠٠٠ | ٩٠ | ١,٣ |
| ٢٠٢ | تايوان | ٦٠,٠٠٠ | ٠,٣ | ٠,١< |
| ٢٠٣ | تاجيکستان | ٧,٠٠٦,٠٠٠ | ٩٩,٠ | ٠,٤ |
| ٢٠٤ | تانزانيا | ١٩,٤٢٦,٨١٤ | ٣٥ | ٠,٨ |
| ٢٠٥ | تايلند | ٣,٩٥٢,٠٠٠ | ٥,٨ | ٠,٢ |
| ٢٠٦ | ختيځ تيمور | ١,٠٠٠ | ٠,١ | ٠,١< |
| ٢٠٧ | توګو | ٨٢٧,٠٠٠ | ٢٠ | ٠,١ |
| ٢٠٨ | توکلاو | ١,٠٠٠< | ٠,١< | ٠,١< |
| ٢٠٩ | تونګا | ١,٠٠٠< | ٠,١< | ٠,١< |
| ٢١٠ | ترينيدادوتوباګو | ٧٨,٠٠٠ | ٥,٨ | ٠,١< |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۱۱ | تونس | ۱۱,۱۹۰,۰۰۰ | ۹۹,۸ | ۰,۶ |
| ۲۱۲ | ترکیه | ۷۴,۶۶۰,۰۰۰ | ۹۸,۶ | ۴,۶ |
| ۲۱۳ | ترکمنستان | ۴,۸۳۰,۰۰۰ | ۹۳,۳ | ۰,۳ |
| ۲۱۴ | د ترکیس او کیکوس ټاپوګان | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۲۱۵ | تووالو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۲۱۶ | اوګاندا | ۵,۰۳۰,۰۰۰ | ۱۲,۰ | ۰,۳ |
| ۲۱۷ | اوکراین | ۳۹۳,۰۰۰ | ۰,۸ | ۰,۱< |
| ۲۱۸ | عربی متحده امارات | ۳,۵۷۷,۰۰۰ | ۷۶,۰ | ۰,۲ |
| ۲۱۹ | بریتانیا | ۳,۱۰۶,۳۶۸ | ۴,۸ | ۰,۲ |
| ۲۲۰ | متحده ایالات | ۲,۵۹۵,۰۰۰ | ۰,۸ | ۰,۲ |
| ۲۲۱ | د ورجین ټاپو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱ | ۰,۱< |
| ۲۲۲ | اروګوئه | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۲۲۳ | ازبکستان | ۲۶,۸۳۳,۰۰۰ | ۹۶,۵ | ۱,۷ |
| ۲۲۴ | وانوآتو | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۲۲۵ | واتیکان | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۲۶ | ونزوئلا | ۹۵,۰۰۰ | ۰,۳ | ۰,۱< |
| ۲۲۷ | ویتنام | ۷۱,۲۰۰ | ۰,۲ | ۰,۱< |
| ۲۲۸ | والیس او فوتونا | ۱,۰۰۰< | ۰,۱< | ۰,۱< |
| ۲۲۹ | لوېدیزه صحرا | ۵۲۸,۰۰۰ | ۹۹,۶ | ۰,۱< |
| ۲۳۰ | یمن | ۲۴,۰۲۳,۰۰۰ | ۹۹,۰ | ۱,۵ |
| ۲۳۱ | زامبیا | ۱۴۰,۰۰۰ | ۱ | ۰,۱< |
| ۲۳۲ | زیمبابوې | ۴۸۸,۶۵۶ | ۳ | ۰,۱< |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| --- | مرکزی آسیا | ۵۴,۰۰۰,۰۰۰ | ۸۰,۰ | ۳,۰ |
| --- | سويلي آسيا | ۵۰۷,۲۸۴,۰۰۰ | ۳۱,۴ | ۳۰,۶ |
| --- | سويل ختيځه آسيا | ۲۵۷,۰۰۰,۰۰۰ | ۱۲,۰ | ۱۵,۰ |
| --- | منځني ختيځ ـشمالي افريقا (منا) | ۳۱۵,۳۲۲,۰۰۰ | ۹۱,۲ | ۲۲,۹ |
| --- | د آفريقا سويلي صحرا | ۲۴۲,۵۴۴,۰۰۰ | ۲۹,۶ | ۱۵,۰ |
| --- | اروپا | ۴۴,۱۳۸,۰۰۰ | ۶,۰ | ۲,۷ |
| --- | آمريکا | ۵,۲۵۶,۰۰۰ | ۰,۶ | ۰,۳ |
| -------- | ټوله نړۍ | ۱,۷۰۳,۱۴۶,۰۰۰ | ۲۳,۴ | ۱۰۰,۰ |

،،(ويکي پيديا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عربي ژبي هېوادونه

### ۱. اردن:

,, اردن (الأردن)، رسمي نوم يې د اردن هاشمي سلطنت دی، دغه هېواد په لويديځه اسيا کې پروت دی. د شام په سيمه د اردن د سمندر په ختيځه څنده کې د اسيا، افريقا او اروپا په درې لارې کې پروت دی. اردن له سعودي عربستان، عراق، سوريې، اسرائيلو او فلسطين له لويديځې ترانګې سره پوله لري. مړ سيند يې په لويديځو پولو پروت دی، داهېواد په خپل لرې سويل لويديځ کې د سور سمندر سره شپږ ويشت کيلو متره (۱۶ ميله) ساحل لري. عمان يې پلازمېنه، ستر ښار او اقصادي، سياسي او کلتوري مرکز دی.

په اوسني اردن کې د لرغوني دېرين پير انسانانو ژوند کړی. د ژېړو (برونزو) پړاو په پای کې په دې سيمه کې درې د اوړدې مودې پاچهی ځرګندې شوې دي چې هغه دا دي:

- عمون
- مواب
- ادوم

په وروستيو واکمنيو کې يې د النبطية پاچهي، پارسي ستروا‌کي، رومي ستروا‌کي، راشده واکمني، امويان، عباسي خلافت او عثماني ستروا‌کۍ شاملې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردن د عرب اتحاديې او اسلامي همکاريو سازمان بنسټ ايښودونکی غړی دی. د دې خپلواک هېواد نظام مشروطه پاچهي ده، خو پاچا پراخه اجرائيوي او قانون جوړوونکي واکونه له ځانه سره لري .

اردن نيمه وچ او شاړ هېواد دی، ټوله سيمه يې ۸۹۳۴۲ کيلو متر مربع (۳۴،۴۹۵ ميل مربع) ده، د وګړو شمېر يې نهه ميليونه دی، په عربي هېوادونو په يوولسم شمېره زيات نفوس لري. غوځ اکثريت يا پنځه نوي سلنه وګړي يې سني مسلمانان دي، اصلي لږه کي مسيحيان هم لري. اردن په بيا بيا ناکراره منځني ختيځ کې «ارامه سيمه» بلل کېږي.

اردن له عرب پسرلي وروسته چې په ۲۰۱۰ز کال کې يې دا سيمه ونيوله، کوم زيان ونه لېده. له ۱۹۴۸ز کال راهيسې، اردن له ډېرو جګړه کې ښکېلو ګاونډيو هېوادونو نه کډوال منلي دي.

اردن د انساني ودې د شاخص له پلوه يو سل او دويم هېواد دی او د عايد له منځنۍ کچې پورته اقتصاد لري. د اردن اقتصاد په سيمه کې يو له کوچني اقتصاد نه دی چې د ماهر کار ځواک پر بنسټ د بهرنۍ پانګونې د لېوالتيا وړ دی. دا هېواد د سيلانيانو د لېوالتيا مرکز هم دی او د ښه پرمختللي روغتيايي برخې له امله د روغتيايي سيال بينۍ لپاره هم جذاب دی. سره له دې، د طبيعي سرچينو کمښت، د کډوالو زيات ورتګ او د سيمې نا ارامۍ د دې هېواد اقتصادي او ودانيزه وده له ستونزو سره مخامخ کړې ده.،، (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اردن هېواد ودانيزانځور



د اردن هېواد ودانيزانځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اردن هېواد ودانيزانځور



د اردن هېواد ودانيزانځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ـ الجزاير:

,, د افريقا په سهېل کې يو هېواد دی چې ولسمشريز نظام لري.

دا هېواد د افريقا په لويه وچه کې دوهم لوی هېواد دی. دا هېواد په سهېل ختيځ کې د تونس سره، په ختيځ کې د ليبيا سره، په سوېل ختيځ کې د نايجېر سره، په سوېل لوېديځ کې د مالي او ماوريتانيا او په لوېديځ کې د ماراکو سره ګډې نړېوالې پولې لري ,لويديځه صحرا ,په لوېديځ کې. د الجزاير اساسي قانون اسلام ,عرب ,او آمازيغ (بربر) هېواد. د الجېريا نوم د الجزاير د ښار د نوم نه راوتلی دی , د عربي لغت *الجزائر*، چې په پښتو ژباړه کې د *ټاپوګان* په مانا دی، دا نوم هغه څلورو ټاپوګانو خوا ته اشاره کوي چې د الجزاير د ښار د سمندر غاړې نه په سيند کې تر ۱۵۲۵ زېږيز کال پورې پرتې وې چې بيا وروسته د همدغه هېواد د وچې برخې وګرځېدلې.

**الجزاير** د **الجزاير د خلکو ديموکراتيک جمهوريت** له رسمي نوم سره د افريقا په شمال کې پروت هېواد دی. په ختيځ کې له ليبيا؛ په سويل ختيځ کې له نايجيريا؛ په سويل لويديځ کې له مالي، موريتانيا او لويديځې ببېديا؛ په لويديځ کې له مراکش؛ په شمال کې د مديترانې سيند سره پوله لري. دا د افريقا په شمال کې د مغرب سيمې يوه برخه بلل کيږي. دا هېواد نيمه ـ وچه جغرافيه لري او د نفوس ډېره برخه يې د شمال په حاصل خېزه برخه کې ژوند کوي او دا صحرا د سويل پر جغرافه واکمنه ده. الجزايز ۲۳۸۱۷۴۱ کيلومتره مربع (۹۱۹۵۹۵) مساحت لري. چې په دې توګه د افريقا په کچه د مساحت له پلوه لسم لوی هېواد دی. الجزاير د ۴۴ ميليونه نفوس له لرلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افريقا نهم د نړۍ په کچه ۳۲م ګڼنفوسه هېواد دی. پلازمېنه او تر ټولو لوی ښار يې الجزيره دی چې د مديترانې سمندرغاړو کې پروت دی .

په الجزاير کې لرغونې لړۍ، تمدونونه او امپراتورۍ دا دي:

لرغونې نيومديان، فينيکيان، بونيقيان، روميان، ونداليان، بيزانسان، امويان، عباسيان، رستميان، ادريسيان، اغلابيان، فاطميان، زيريديان، حماديان، المرويان، موحدان، اسبانيان، اسپانويان، عثمانيان او فرانسوي استعماري امپراتوري. د الجزاير د نفوس لوی اکثريت مسلمان شوي عرب - بابر دي چې عربي او بېربري ژبې د رسمي ژبو په توګه کاروي. له دې سره په ځينو برخو کې فرانسوي ژبه د يوې اداري او ښونيزې ژبې په توګه کارول کېږي. د خبرو کولو لپاره اصلي ژبه الجزايري عربي ده.

الجزيره يو نيمه ولسمشريز جمهوريت دی چې سيمه ييزې ټاکنيزې حوزې يې له ۵۸ ولايتونو او ۱۵۴۱ کاميونونه (په الجزاير کې تر ټولو کوچنی اداري واحد، ژباړن) لري. دا هېواد د ټولو غير جزيره يي افريقايي هېوادونو تر منځ د انساني او ودانيز پرمختګ تر ټولو لوړ شاخص لري او تر ډېره د انرژۍ د صادراتو پر بنسټ د دې لويې وچې له لويو اقتصادونو څخه دی. ،، (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library






الجزاير د يوې برخې انځور



الجزاير د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





الجزاير د يوې برخې انځور



الجزاير د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





الجزاير د يوې برخې انځور



الجزاير د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





الجزاير د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳. بحرين:

,, بحرين (البحرين)، رسمي نوم يې د بحرين سلطنت (مملكة البحرين) دی، دا هېواد د فارس په خليج کې پروت دی. دا د ټاپوګانو هېواد دی چې له پنځوسو طبيعي ټاپوګانو او درې دېرشو جوړو شوو (مصنوعي) ټاپوګانو نه جوړ له يو کوچني مجمع الجزاير نه تشکيل شوی، مرکز يې د بحيرين ټاپو دی چې دې ټاپوګانو د بحرين درې اتيا سلنه ځمکه نېولې ده. بحرين د قطري ټاپووزمې او شمال ختيځ ساحل ته د سعودي عربستان تر منځ پروت دی، د پنځه ويشت کيلومتره اوږدې (۱۶ميله) ملک فهد لارې په مټ له سعودي عربستان سره وصل شوی. د ۲۰۲۰ز کال د شمېرې تر مخې د بحرين د وګړو شمېر ۱،۵۰۱،۶۳۵ دی چې ۷۱۲،۳۶۲ يې د بحرين اصلي اوسېدونکی دي. د ۷۶۰ کيلو مترمربع (۲۹۰ميل مربع) مساحت په لرلو سره له مالديف او سينګاپور وروسته په اسيا کې درېيم کوچنی هيواد دی. پلازمېنه اوستر ښار يې عمان دی.

بحرين د لرغوني ديلمون تمدن سيمه ده. دا هېواد له لرغونې زمانې نه په بحر کې د ملغلرو د موندلو له امله شهرت لري چې دا ملغلرې تر نولسمې پېړۍ پورې په ټوله نړۍ کې تر ټولو غوره وې.

د ۱۸۰۰ز کلونو په وروستيو کې، له بريتانويانو سره تر برياليو تړونونو وروسته، بحرين د بريتانيې تحت الحماية هېواد شو. په ۱۹۷۱ز کال کې يې خپلواکي اعلان کړه. پخوا يې نظام امارت و، خو په ۲۰۰۲ز کال کې بحرين يو اسلامي مشروطه شاهي نظام اعلان شو. په ۲۰۱۱ز کال کې، د سيمه ييز عرب پسرلي نه په الهام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستلو سره په دې هېواد کې لاريونونه وشول. د بحرين واکمنه الخليفه شاهي کورنۍ د مخالفينو، سياسي مخالفو ډلو او اکثريت شيعه مسلمانانو له حقوقو نه د سرغړونو له امله تر نيوکو لاندې ده .

بحرين په پارس خليج کې د تيلو له کشف وروسته لومړي اقتصاد ته وده ورکړه، د بانکدارۍ، ودانيزو او ګرځندوی په برخو کې د لسيزو پانګوني د پايلي په توګه د نړۍ ګڼې مالي پانګونکي اداري د دې هېواد په پلازمېنه کې شته. ،، (۶)



بحرين د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





بحرين د يوې برخې مودل انځور



بحرين د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





بحرين د يوې برخې انځور



بحرين د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴. تونس:

,, د تونس جمهوري هېواد د افریقا په شمال کې پروت دی. دغه هېواد په شمالي افریقا کې د مغرب سیمې برخه ده، په لویدیځ او سویل لویدیځ کې یې الجیریا، په سویل ختیځ کې یې لیبیا ، شمال او ختیځ کې یې مدیترانې سمندرګۍ موقعیت لري، چې د ۱۱ میلیونه وګړو نفوس په لرلو سره ۱۶۳ زره ۶۱۰ کیلومتر مربع (۶۳ زره ۱۷۰ مایل مربع) مساحت لري. په دغه هېواد کې د اطلس غرونو ختیځ پای شاملېږي او شمال یې بیا د افریقا تر لویې صحرا رسیږي، چې پاتې نور ډېر قلمرونه یې کرنیزې ځمکې دي. په ۱۳۰۰ کیلومتره (۸۱۰ مایله) ساحلي کرښو کې یې د مدیترانې حوزې ختیځ او لویدیځ افریقایي پیوند شاملېږي. تونس د افریقا د تر ټولې لرې شمالي څوکې کیپ انجلا کور دی؛ پلازمېنه یې تونس، د دغه هېواد تر ټولو لوی ښار دی، چې په شمالي ختیځو سواحلو کې موقعیت لري او د خپل هېواد (تونس) نوم یې خپل کړی دی .

کارتاژ چې یوه لویه سوداګریزه ستروا‌کي او د روم جمهوریت نظامي سیال و، له میلاد نه ۱۴۶ کاله وړاندې د رومیانو له خوا ماته وخوړه او د راتلونکو ۸۰۰ کلونو لپاره تونس د روم تر نیواک لاندې راغی.

هغوی هلته عیسویت دود کړ او د آمفي تیاتر الجیم په څېر د معمارۍ آثار یې هلته پرېښودل. له ۶۴۷ ز کال راهیسې، له څو هڅو وروسته، مسلمانانو تر ۶۹۷ ز کال پورې ټول تونس ونیو او د هغه ځای سیمه ییزو خلکو ته یې اسلام او عربي کلتور وروړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تونس په شمالي افريقا کې کوچنی هېواد دی، فرهنګ او هويت يې د پېړيو په ترڅ کې په بيلابيلو کلتورنو او قوميتونو کې ريښه لري .

دغه هېواد له ګڼ شمېراروپايي هېوادونو سره نږدې اقتصادي او سياسي اړيکې لري او ودانيزه برخه کې چټک پر مختګ لري.،، (۷)




تونس د يوې برخې انځور



تونس د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





تونس د يوې برخې انځور



تونس د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. جيبوتی:

,, **جيبوتي** چې رسمي نوم يې **د جيبوتي جمهوريت** دی د افريقا په (ښکر) کې پروت يو هېواد دی چې پلازمېنه يې د جيبوتی ښار دی. مساحت يې ۲۳'۲۰۰ کيلومتره مربع او د وګړو شمير يې ۸۱۸'۱۵۹ نفره دی.

جيبوتي، په رسمي ډول د جيبوتي جمهوريت، د افريقا د ښاخ په برخه کې يو هېواد دی. دا هېواد له سويل لوري له سوماليا، له سويل لوېديځ لوري له ايتوپيا، له شمال لوري له اريتريا، او له ختيځ لوري د سرې سمندرګۍ او د عدن له خليج سره ګډه پوله لري. د عدن خليج په هغه غاړه کې يمن پروت دی. دا هېواد ټولټال ۲۳،۲۰۰ کيلومتر مربع (۸،۹۵۸ مايل مربع) مساحت لري .

په لرغوني زمانه کې، دا هېواد د ايتوپيا، اريتريا او سوماليلنډ سره يوځای د پونټ د خاورې برخه وه. زيلا ته نږدې، چې اوس په سوماليلينډ کې ده، د منځنيو پيړيو عدل او عفت سلطنتونه وو.

جيبوتي يو څو توکميز هېواد دی چې له ۹۲۱،۸۰۴ څخه ډير نفوس لري (چې په افريقا کې ترټولو کوچنی دی). فرانسوي او عربي ژبې د دې هېواد دوه رسمي ژبې دي او عفر او سومالي يې ملي ژبې دي.

نږدې ۹۴٪ اوسيدونکي يې د اسلام لارويان دي چې د دې هېواد رسمي دين دی او له زرو کلونو څخه زيات په دې سيمه کې حاکم دی. سومالي او عفر دوه لويې توکميزې ډلې جوړوي، چې عفر يې اکثريت دی. دواړه د افرو- آسيايي ژبو په کوشي ژبه خبرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیبوتي په ستراتیژیک ډول د نړۍ د کښتیو ترټولو بوختو لارو ته نږدې موقعیت لري، چې سره سمندر او د هند سمندر ته لاسرسی کنټرولوي. دا هېواد د تیلو د اچولو او د بار د بدلولو مهم مرکز ګڼل کېږي او د ګاونډي ایتوپیا څخه د وارداتو او صادراتو له پاره اصلي سمندري بندر دی. په ودانیزه برخه کې پانګونه خورا لږه او په ورو توګه  افقي وده کوي.،، (۸)



جیبوتي د یوې برخې انځور



جیبوتي د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





جيبوتي د يوې برخې انځور




جيبوتي د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶- سعودی عربستان:

,, سعودي عربستان چې په رسمي ډول د سعودي عربستان د پاچهي په نوم پېژندل کېږي، په لویدیځه آسیا کې هېواد دی. دغه هېواد د عربو ټاپو وزمې نږدې ټوله برخه جوړوي، چې مساحت يې نږدې ۲ میلیونه ۱۵۰ زره کیلومتر مربع (۸۳۰ زره مایل مربع) دی.

په منځني ختیځ کې تر ټولو لوی او په عربي نړۍ کې دویم لوی هېواد دی. په شمال کې له اردن او عراق، په شمال ختیځ کې له کویټ، په ختیځ کې له قطر، بحرین او عربي متحده اماراتو او په سویل ختیځ کې له عمان او یمن سره پوله لري، د عقبه خلیج په واسطه په شمال لویدیځ کې له مصر نه جلا کېږي. سعودي عربستان یوازنی هېواد دی چې له دواړو سره سمندرګي او فارس خلیج سره ساحلي کرښې لري، چې ډېری ځمکې يې له وچې صحرا، دښتو، بې ونو ځمکو او غرونو نه جوړه ده. پلازمېنه يې ریاض تر ټولو لوی ښار دی، په دغه هېواد کې د اسلام دوه سپېڅلي ښارونه مکه معظمه او مدینه منوره هم موقعیت لري.

د اسلام له سپېڅلي دین وړاندې عربستان، هغه سیمه چې معاصر سعودي عربستان په کې پروت دی، د ګڼ شمېر لرغونو کلتورونو او تمدنونو ځای و، د عربستان له تاریخ وړاندې مهال په نړۍ کې د انساني چارو لومړني آثار ښيي. د نړۍ تر ټولو لوی دویم دین اسلام، په سعودي عربستان کې ظهور کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۷ مې پېړۍ په لومړیو کې، د اسلام پیغمبر محمد(ص) د عربستان وګړي متحد کړل او یو واحد اسلامي نظام یې جوړ کړ.

په ۶۳۲ ز کال کې د هغه له وفات وروسته، پیروانو یې په چټکۍ سره د عربستان تر حاکمیت لاندې قلمرو پراخ کړ، په بې مخینې ډول یې په لویه کچه قلمرو (په لویدیځ کې له ایبري ټاپووزمې نه په ختیځ کې تر معاصر پاکستان پورې) د څو لسیزو په ترڅ کې فتح کړ.

د معاصر سعودي عربستان نه بنسټ اخیستونکو سلسلو د راشدینو (۶۳۲-۶۶۱ ز کال)، امویانو (۶۶۱-۷۵۰ ز کال)، عباسیانو (۷۵۰-۷۵۱ ز کال) او فاطمي (۹۰۹- ۱۱۷۱ ز کال) خلافتونه وکړل، همدارنګه یې په آسیا، افریقا او اروپا کې ګڼ شمېر واکمنۍ رامنځته کړې. سعودي عربستان په پام کې لري چې په نیوم ښار کې د نړۍ تر ټولو سترې ودانۍ جوړې کړي.،، (۹)



د سعودی عربستان نیوم ښار د یوې ښندی مودل انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سعودی عربستان نیوم ښار د یوې څنډې انځور



د سعودی عربستان نیوم ښار د یوې څنډې مودل انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سعودی عربستان نیوم ښار د یوې څنډې مودل انځور



د سعودی عربستان نیوم ښار د یوې څنډې مودل انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- سودان:**

,, سوډان (په عربي کې السودان) رسمي نوم يې د سوډان جمهوريت دی (په عربي کې جمهورية السودان)، دا هېواد د افريقا په شمال ختيځه سيمه کې پروت دی. د مرکزي افريقا جمهوريت، چاډ، مصر، ايريتريا، ايتوپيا، ليبيا، سويلي سوډان او سور سمندر سره ګډه پوله لري. په ۲۰۲۱ز کال کې يې د وګړو شمېر څلور څلوېښت اعشاريه يونوي ميليونه شمېرل شوی مساحت يې ۱،۸۸۶،۰۶۸ کيو متر مربع (۷۲۸،۲۱۵ ميل مربع) دی، په دې ډول د افريقا په کچه د مساحت له پلوه په افريقا او عربي ټولنه کې درېيم ستر هېواد دی. په ۲۰۱۱ز کال کې د سويلي سوډان تر جلا کده پورې دا هېواد د مساحت له پلوه په افريقا او عربي ټولنه کې تر ټولو ستر هېواد و، خو له هغه وخته دا دواړه امتيازات له الجزاير سره دي. پلازمېنه يې خرطوم او تر ټولو ګڼ مېشته ښار يې أم درمان (د ميترو خرطوم يوه برخه ده) ښار دی.

د ۱۹۵۶ز کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه، په قانوني ډول د يوه خپلواک هېواد په توګه اعلان شو .

اسلام د سوډان دولتي دين و او اسلامي قانون له ۱۹۸۳ز کال نه تر ۲۰۲۰ز کال پورې چې دا هېواد په سيکولر بدل شو عملي کېده.

د دې هېواد اقتصاد او ودانيز پر مختګ په ښکته منځنۍ کچه عايد تعريف شوی، که څه هم سوډان د اوږدې مودې نړيوالو بنديزونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله په ښنده کې و، بيا هم د دې هېواد اقتصاد د تېلو په توليد تکيه کوي. ،،(١٠)



د سودان ښار د يوې ښندې انځور



د سودان ښار د يوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سودان ښار د يوې ښندې انځور



د سودان ښار د يوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸- سوریه:**

,, سوریه د لویدیځې آسیا یو هېواد دی، سویل لویدیځ ته یې لبنان او اسرائیل، لویدیځ ته یې مدیترانې سمندرګی، شمال ته یې ترکیه، ختیځ ته یې عراق او سویل ته یې اردن موقعیت لري. دمشق یې لوی ښار او پلازمېنه ده. دغه هېواد د حاصلخېزو ځمکو، لوړو غرونو او دښتو په لرلو سره د ګڼ شمېر قومي او مذهبي ډلو کور دی چې په زیاته کچه په کې عرب سوریایي وګړي، کوردان، ترکمنان، آشوریان، ارمنیان، شرکسیان، مندایون او یونانیان دي. مذهبي ډلې په کې سني مسلمانان، عیسویان، علویان، دروزیان، اسماعیلیه، مندایون، شیعیان، سلفیان او ایزدیان دي. عرب یې تر ټولو لوی قومي او سني مسلمانان یې، تر ټولو لوی دیني جوړښتونه دي .

سوریه یو موټی جمهوریت دی، چې له ۱۴ ولایتونو جوړ دی او یوازنی هېواد دی چې له سیاسي پلوه د بعثیزم له نظریې ملاتړ کوي. له ملګرو ملتونو پرته د یوه بل نړیوال بنسټ چې ناپېیلی غورځنګ دی غړیتوب لري؛ د ۲۰۱۱ ز کال په نومبر میاشت کې یې په عربي ټولنه او اسلامي همکاریو سازمان کې غړیتوب وځنډېد او په خپله یې د مدیترانې سمندرګي د هېوادونو په ټولنه کې غړیتوب وځنډاوه .

د سوریې نوم، له تاریخي پلوه یوې پراخې سیمې ته اړوندېږي چې له شام سره مترادف دی او په عربي کې ورته الشام وایي. معاصر دولت یې د ګڼ شمر لرغونو پاچاهیو او ستروا‌کیو ځای پاتې شوی، چې په کې د ابلان تمدن چې له میلاد ۳ زریزې وړاندې تاریخ لري شاملېږي. حلب او د دغه هېواد پلازمېنه دمشق په نړۍ کې یو له تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو لرغونو او د وګړو د استوګنې ښارونه و. په اسلامي دوره کې دمشق د اموي خلافت مرکز او په مصر کې د مملوک پاچهي ولايتي مرکز و

له خپلواکۍ وروسته دوره کې، له ۱۹۴۹ ز کال نه تر ۱۹۷۱ ز کال پورې دغه هېوا د ګڼ شمېر پوځي کودتا ګانو او هېواد لړزونکو کودتاييزو هڅو شاهد و.

چې د سيمې او له هغو هاخوا يو شمېر هېوادونه هم په کې په نظامي او غير نظامي ډول ښکېل دي. چې له امله يې د دغه هېواد په قلمرو کې يو شمېر خپل سرې سياسي ډلې رامنځته شوي چې د سوريې اپوزيسيون، د سوريې د ختيځ او شمال خپلسرې اداره يا روژاوا، تحرير الشام او د عراق او شام لپاره اسلامي دولت (داعش) په کې شاملېږي.

له ۲۰۱۶ ز کال نه تر ۲۰۱۸ ز کال پورې دغه هېواد د نړيوالې سولې په نوملړ کې وروستۍ ځای لري، چې ښيي د جګړې له امله په نړۍ کې تر ټولو له تاوتريخوالي ډک هېواد دی.

دغه هېواد په ودانيزه برخه کې خورا ورو پرمختګ او ځينو برخو کې يې پر مختک د خپلمنځی جګو له کبله په ټپه ولاړ دی.،، (۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سوريې ښار د يوې څنډې انځور



د سوريې ښار د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سوریې ښار د یوې څنډې انځور



د سوریې ښار د یوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سوريې ښار د يوې څنډې انځور



د سوريې ښار د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹- سومالیا (سومالي)**

,, **سومالیا** په رسمي توګه، **د سومالیا دموکراتیک جمهوریت** یادیږي د افریقا په ښکر کې پروت یو هیواد دی. پلازمینه یې موګادیشو او رسمي ژبې یې سومالیایي او عربي ژبه دي، یاد هېواد ۶۳۷'۶۶۱ کیلومتره مساحت او ۹'۵۵۸'۶۶۶ میلیونه وګړي لري. په ۲۶ د جون او ۱ د جنوری ۱۹۶۰م کال سومالیا له بریتانیا پخواني یوګسلاویا او له ایټالیا نه خپله خپلواکی ترلاسه کړه.

سومالیا په رسمي ډول د سومالیا فېډرال جمهوریت (جمهوریادا فېدرالکا سومالیا؛ په عربي ژبه: جمهورية الصومال الفيدرالية) د افریقا په ښاخ کې پروت هېواد دی. دا هېواد په لویدیځ کې له ایتوپیا، له شمال لویدیځ څخه له جیبوتي، له شمال څخه له عدن خلیج، له شرق څخه د هند سمندر او له سویل لویدیځ څخه له کینیا سره پوله لري. سومالیا د افریقا په اصلي خاوره کې تر ټولو اوږده ساحلي کرښه لري. دا خاوره تر ډېره له لوړو سطحو، بېدیاوو او ارتفاعاتو څخه جوړه ده. د ټول کال په بهیر کې ګرم شرایط له دوره یي موسمي بادونو او نامنظمو وورښتونه سره په یاده خاوره حاکم دي. د سومالیا نفوس نږدې ۱۵ میلیونه اټکل شوی، چې له دوه میلیون څخه زیات یې په پلازمېنه او تر ټولو لوی ښار موګادېشو کې ژوند کوي چې له فرهنګي پلوه د افریقا تر ټولو سره ورته/ هیموجنېز هېواد دی. نږدې ۸۵ سلنه اوسېدونکي یې له سومالیایي نژاد څخه دي، چې له تاریخي پلوه د هېواد په شمال کې مېشت وو. قومي اقلیتونه په پراخ ډول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سويل کې متمرکز دي. د سومالیا رسمي ژبې سومالیایي او عربي دي. د دې هېواد ډېرى اوسېدونکي مسلمانان او تر ډېره سوني مذهبه دي .

سومالیا په لرغوني دوره کې یو مهم سوداګریز مرکز و، دا د پونت د لرغونې خاورې له تر ټولو ممکنو افسانوي ځایونو څخه ده. د منځنیو پېړیو په بهیر کې د سومالیا څو ځواکمنو امپراتوریو پر سیمه ییزو سوداګریو واک درلود چې له ډلې یې د اجوران، د ادال سلطنت او د ګلدي سلطنت یادولی شو .

په ۱۹۶۹ ز کال کې د انقلاب عالي شورا واک ترلاسه کړ او د سومالیا دیموکراتیک جمهوریت یې رامنځته کړ او په ظالمانه ډول یې هڅه وکړه، تر څو د سومالي لنډ د خپلواکۍ غوښتنې جګړه په شمال کې وځپي. په دوام یې ۲۲ کاله وروسته په ۱۹۹۱ کال کې د سومالیا د کورنۍ جګړې له پیل سره (انقلابي عالي شورا) سقوط شوه او سومالي لنډ ډېر ژر خپله خپلواکي اعلام کړه.

سومالیا په یو غیر رسمي اقتصاد کې پاتې شوه چې تر ډېره په مالدارۍ، له سومالیا څخه کارکوونکو پر تعرفو او ټېلي کمونیکېشن (له لرې لارې اړیکې) تکیه و او ودانیزه برخه کې چټک پرمختګ نه لري. یاد هېواد د ملګرو ملتونو، عربي ژبو، افریقایي اتحادیې، د غیرمتحدو غورځنګ او د اسلامي همکاریو د سازمان غړی دی.،،
(۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سومالي ښار د يوې څنډې انځور



د سومالي ښار د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سومالې ښار د يوې څنډې انځور



د سومالې ښار د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰. عراق:**

,, عراق په منځني ختيځ او سويل لويديځ آسيا کې يو هېواد دی. د عراق پلازمينه بغداد ښار دی. عراق په سويل کې له سعودي عربستان او کويټ، په لويديځ کې له اردن او سوريې، په شمال کې له ترکيې او ختيځ ته له ايران سره ګډه پوله لري. عراق هم په سويلي برخه کې د فارس خليج سره د اوبو وړه پوله لري.

د عراق مساحت ۴۳۷،۰۷۲ مربع کيلومتره (۵۸مه) دی. د عراق زياتره ځمکه تيټه او چپه او توده ده. د عراق لوېديځ يې دښتې او ختيځ يې زرخيز ميدانونه دي. خو د عراقي کردستان (شمال ختيځ) برخه غرنۍ او سړه ده. همدا راز عراق يو له هغو هېوادونو څخه دی چې د نفتو زيرمې لري. دا هېواد د ۱٤۳ مليارد بيرلو نفتو تاييد شوي زيرمې لري.

عراق د نړۍ په کچه ۳۶م ډير نفوس لرونکی هېواد دی چې شاوخوا ۴۰ ميليونه نفوس لري عربان د عراق د نفوس نږدې ۵ سلنه جوړوي، چې ٪۷۵-٪۸۰، کردان ٪۱۵-٪۲۰، ترکمن، آشوريان او داسې نور. همدارنګه د عراق ۶۴-٪۶۹ خلک شيعه، ۳۴-٪۲۹ سني، ٪۱ عيسويان او ٪۱ د نورو مذهبونو پيروان دي. عراق هغه ځای دی چې ۶ شيعه امامان پکې اوسيږي او ښخ شوي دي. او د نجف، کربلا، کاظمين او سامرا ښارونه د نړۍ د شيعه ګانو د زيارت ځايونه دي.

د امويانو له نسکورېدو او د عباسيانو له رانسکورېدو وروسته د اسلامي خلافت پلازمېنه له سوريې څخه عراق (بغداد ښار) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړل شوه. د لسمي پېړۍ له نيمايي څخه د ديارلسمي پېړۍ تر پايه پورې، د عراق ځينې برخې د ايران او عثمانيانو ترمنځ څو ځلې لاسونه بدل شول. په لومړۍ نړيواله جګړه کې د عثماني خلافت له ماتې وروسته، عراق په ۱۹۱۹ ميلادي کال کې د برتانيې يوه محافظه کاره سيمه شوه او په ۱۹۳۲ کې يې خپلواکي ترلاسه کړه.

د عراق ډېرى نوي سرحدونه په ۱۹۲۰ کې د عثماني امپراتورۍ له ويشلو وروسته د سور د تړون پراساس د ملګرو ملتونو د ليګ لخوا ټاکل شوي. په دې وخت کې عراق د بريتانيا د لوى بريتانيا تر څارنې لاندې راغى. په ۱۹۲۱ کې، د عراق سلطنت تاسيس شو او په ۱۹۳۲ کې، دې حکومت له انګلستان څخه خپلواکي ترلاسه کړه. په ۱۹۵۸ کې، دا سلطنت ورک شو او د عراق جمهوريت تاسيس شو. له ۱۹۶۸ څخه تر ۲۰۰۳ پورې، عراق د عراق بعث سوسياليست ګوند واکمن و. پر عراق د امريکا او د هغه د متحدينو له يرغل وروسته د صدام حسين د بعث ګوند حکومت ړنګ شو او په دغه هېواد کې څو ګونديز پارلماني نظام رامنځته شو.
د عراق پرله پسې حکومتونو په ۱۹۲۱ کال کې د نوي عراق له تاسيس راهيسې، د ګاونډيو هېوادونو په څير، هڅه وکړه چې د عرب توکم پر بنسټ د دې لپاره ملي هويت رامينځته کړي. دا طريقه په عراق کې ناکامه شوه او يوازې د غير عربو بيلتون غوښتونکو تمايلاتو او د هغوى د شاونيستي فشار يا شړلو لامل شوه.
په ودانيزه برخه کې پر مختګ يې د خپلمنځي جګړو له کبله په ټپه کچه دى.،، (۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عراق هېواد د یوې ښندې انځور



د عراق هېواد د یوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عراق هېواد د يوې ښندې انځور



د عراق هېواد د يوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عراق هېواد د يوې ښندې انځور



د عراق هېواد د يوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عراق هېواد د يوې ښندې انځور




د عراق هېواد د يوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱. عربي متحده امارات:**

,, متحده عربي امارات (عربي: المعمارات العربية المتتحدة) چې معمولا د اماراتو په نوم يادېږي، د لويديځې اسيا يو هېواد دی چې د عربي ټاپووزمې په ختيځ کې موقعيت لري او د عمان او سعودي عربستان هېوادونو سره ګډه پوله لري او د فارس له لارې خليج له قطر، بحرين او ايران سره تړاو لري. ابوظبي د هېواد پلازمينه ده، پداسې حال کې چې دوبۍ ترټولو نفوس لرونکی ښار او نړيوال اقتصادي مرکز دی. د جغرافيايي معلوماتو پر بنسټ د متحده عربي اماراتو اعظمي اوږدوالی ۵۶۲ کيلومتره دی. الخيمه، شارجه، او ام القوين. هره امارت د يو امير لخوا اداره کيږي، او دا اميران د اتحاديې عالي شورا جوړوي؛ د ابوظبۍ امير تل د متحده عربي اماراتو مشر وي، په داسې حال کې چې د دوبۍ امير تل د دې هېواد د لومړي وزير مقام لري. د متحده عربي اماراتو اتباع دي او ۷،۸ مليونه غير اماراتي وو. په ۲۰۲۰ کې، د متحده عربي اماراتو نفوس نږدې ۹,۹ ميليونه و.

هغه سيمه چې اوس د متحده عربي اماراتو ده، له ۱۲۵,۰۰۰ کاله پخوا راهيسې اوسيږي. دا ښار د ميسوپوتاميا، ايران او هند په ګډون د ډيرو تمدنونو سره نښلول شوی دی.

اسلام رسمي دين دی او عربي د اماراتو رسمي ژبه ده. د متحده عربي اماراتو د نفتو او طبيعي ګاز زيرمې په ترتيب سره په نړۍ کې شپږم او اووم لويې زيرمې دي، د متحده عربي اماراتو پراختيا د متحده عربي اماراتو په پراختيا اغيزه درلوده. د فارس خليج د همکارۍ د شورا غړي په يوويشتمه پيړۍ کې د تيلو او ګازو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې د هېواد تکيه يو څه کمه شوې ده او له اقتصادي اړخه د سياحت او سوداګرۍ مرکز شوی دی.

ودانيزې چارې دې هېواد کې په ډېره چټکۍ سره د کال تر بلې مخ ته ځي، دا چارې په ټولو اماراتو کې يو شان نه بلکه په ځينوکې خورا چټک او ځينو کې له مخکېنيو پلانونو سره سم د سلګونو ودانيزو شرکتونو چې ډېری يې بهرني دي په مخه وړل کيږي.
د ودانيزو حرکت په ټولو اماراتو کې ولاړه (عمودي) توګه دی.،،
(۱۴)



د عربی متحده اماراتو د يو مودل انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................



د عربی متحده اماراتو د یو مودل انځور



د عربی متحده اماراتو د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عربی متحده اماراتو د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عربی متحده اماراتو د يوې برخې انځور



د عربی متحده اماراتو د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور



د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور



د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور



د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور



د عربی متحده اماراتو د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲. عمان:

,, عمان، په رسمي توګه د عمان سلطنت (عربيي: سلْطنةُ عُمان)، په لویدیځه آسیا کې د عربي ټاپووزمې په سویل ختیځو سواحلو کې موقعیت لري. عمان چې پخوا یوه سمندریزه سترواکي وه، په عربي نړۍ کې تر ټولو پخوانۍ خپلواک هېواد دی. دغه هېواد چې د فارس خلیج د خولې سره په پوله سیمه کې موقعیت لري، له سعودي عربیستان، متحده عربي اماراتو او یمن سره ځمکنۍ پوله او له ایران او پاکستان سره ګډه سمندري پوله لري. دغه ساحل له سویل ختیځ لوري له عربي سمندرګي او له شمال ختیځ لوري د عمان له خلیج نه جوړ دی. د مدا او مسندم سیمې یې د متحده عربي اماراتو د ځمکنیو پولو له خوا احاطه شوې، د هرمز تنګی (چې له ایران سره شریک دی) او د عمان خلیج د مسندم ساحلي پولې جوړوي. مسقط د دغه هېواد پلازمېنه او لوی ښار دی .

له اوولسمې پېړۍ وروسته، د عمان سلطنت ستر‌واکي وه چې په فارس خلیج او هند سمندرګې یې د نفوذ په موخه د پرتګال او بریتانیا له ستر‌واکیو سره سیالي کوله. په ۱۹ مه پېړۍ کې د دغې ستر‌واکۍ په اوج کې، عماني نفوذ یا کنترول له ټول هرمز تنګي نه تر معاصر ایران او پاکستان پورې او په لرې سویل کې تر زنجبار رسېده. هغه مهال چې په ۲۰ مه پېړۍ کې یې قدرت را کم شو، دغه سلطنت د بریتانیا تر اغېز لاندې راغی. د ۳۰۰ نه زیاتو کلونو لپاره، د دواړو ستر‌واکیو ترمنځ اړیکې د مشترکو ګټو له مخې وې. بریتانیا د عمان جغرافیایي اهمیت د سوداګریز مرکز په توګه چې په فارس خلیج او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند سمندر کې يې د هغو سوداګريزې کرښې تضمين کولې او د هند په نيمه لويه وچه کې يې له خپل نفوذ نه ساتنه کوله، په رسميت وپېژاند. له تاريخي پلوه مسقط د فارس خليج سوداګريز مرکز و.

توريزم (سياحت)، د کبانو او خرما سوداګري يې د سوداګرۍ يوه برخه جوړوي. عمان د لوړ عايد لرونکي اقتصاد او د نړيوالې سولې د شاخص له مخې په نړۍ کې ۶۹ سوله ييز هېواد بلل شوی دی .

به دې هېواد کې ودانيزې چارې په چټکۍ سره په مخ ځي.،، (۱۵)




عمان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





عمان د يوې برخې انځور



عمان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. فلسطين:

,, فلسطين په عربي ژبه کې: فلسطين، په لوېديځه اسيا کې يوه جغرافيايي سيمه ده چې اسرائيلو لوېديځه غاړه، د غزې تنګې په ځينو تعريفو نو کې د اردن لوېديځه سيمې تر پوښښ لاندې راولي .

دا نوم د لرغونو يوناني ليکوالانو له لوري کارول کېده او ورپسې د روم يهوديه ولايت ته چې د سوريې فلسطين نوم ته واړول شوو وکارل شو. د بيزانس په دوره کې، دا نوم د لومړي فلسطين او دويم فلسطين د ولايتونو لپاره کارول کېده او د مسلمانانو په لاس د شام له فتحې وروسته، د جند فلسطين پوځي ولسوالي تاسيس شوه . فلسطين چې د يهوديت او عيسويت د زيږون ځای دی، د دين، دود، سوداګرۍ او سياست د ځلورلارې په توګه ګډوډ تاريخ لري. په دې سيمه کې د برونزو په زمانه کې کنعانيان استوګن شول او د اوسپنې په زمانه کې، د اسرائيلو او يهودا تر نومونو لاندې دوې اسرائيلي اړونده پاچاهيو ظهور وکړ. نوموړې سيمه وروسته د بېلا بېلو ستروواکيوو لکه نيو-آشورو نيو بابل او د فارس هخامنشي تر واک لاندې راغله. فلسطين د صليبي جګړو له دورې وروسته، چې په دې موده کې د عيسويت او اسلام ترمنځ د شخړې مرکز وو، په پراخه کچه مسلمان شو. په ۱۳ پېړۍ کې د مملوک د سلطنت د سورېې ولايت برخه او له ۱۵۱۶ ز کال وروسته، د عثماني ستر‌واکۍ برخه شو. د لومړۍ نړيوالې جګړې په اوږدو کې انګلستان له عثمانيانو څخه ونيو او تر ۱۹۴۸ ز کال پورې يې د ملتونو د ټولنې تر ملاتړ لاندې تر واک لاندې ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړې سيمه، له ۱۹۴۸ ز کال ورسته په اسرائيلو، لويديځه غاړه او د غزې تنګي وويشل شوه. دفلسطين دولت، چې په نيمه توګه د قانوني دولت په بڼه په رسميت پېژندل شوی دی، له اسرائيلو سره د خپل حاکميت پر سر په روانه شخړه کې ښکېل دی .

ودانيزی چارې يې په بڼه توګه پر مخ ځي مګ د جګړو له عمله په کې خنډونه هم ځرګندېږي، يو دمهمو ټکيو نه يې په معماری کې سپين رنګ کارونه او ساده (سټايل) دی. ،، (۱۶)



فلسطين د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





فلسطين د يوې برخې انځور



فلسطين د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





فلسطين د يوې برخې انځور



فلسطين د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴. قطر:**

,, قطر د قطر رسمي نوم دی، د لویدیځې اسیا هېواد او د قطر هېواد. دغه هېواد د عربي ټاپووزمې په شمال ختیځ کې او د قطر په سواحلو کې پروت دی، یوه کوچنۍ جزیره ده او له سعودي عربستان او سعودي عربستان سره ځمکنۍ پوله لري، چې د فارس خلیج د پاتې سیمو په واسطه محاصره ده. فارس خلیج د بحرین خلیج ته د ننوتلو لاره ده او د بحرین خلیج د ګاونډی بحرین په څیر نه دی. پلازمینه دوحه ده، هغه ښار چې د هېواد نږدې ۸۰ سلنه خلک پکې ژوند کوي.

په ۲۰۱۷ کال کې د دغه هېواد نفوس ۲،۶ میلیونه و. ۳۱۳ قطري پوځیان او ۲/۳ میلیونه یې کډوال (مهاجرین) دي. اسلام رسمي دین دی. د عاید له پلوه، دا هېواد په نړۍ کې د سړي سر ناخالص کورني تولید څلورم لوړ او په نړۍ کې شپږم لوړ د سړي سر ناخالص ملي محصول (اطلس میتود) لري. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، قطر په عربي نړۍ کې د بشري پراختیا تر ټولو لوړ شاخص او د بشري پراختیا دریم لوړ شاخص لرونکی هېواد پیژندل شوی دی. قطر د لوړ حاصلاتو اقتصاد لري چې په نړۍ کې د طبیعي ګاز او تیلو دریم لوی زیرمې لري. دا هېواد په نړۍ کې د مایع طبیعي ګاز لوی صادرونکی او د طبیعي ګاز ترټولو لوی تولید کونکی دی.

په ۲۱مه پیړۍ کې قطر د خپلو بډایه منابعو او د هغې نړیوالې رسنیزې ډلې الجزیرې له امله په عربي نړۍ کې د یوه مهم ځواک په توګه راڅرګند شو چې د عربي پسرلي په لړ کې یې د ډېرو یاغیانو ملاتړ کاوه. قطر د خپل اندازې له امله په نړۍ کې نامناسب نفوذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او د منځني ځواک په توګه پېژندل کيږي. په ۲۰۲۲ کې به د فيفا نړيوال جام په قطر کې ترسره شي، کوم چې لومړی مسلمان عربي هېواد دی چې د سياليو کوربه توب کوي. په ۲۰۳۰ کال کې به اسيايي لوبې په قطر کې ترسره شي.،، (۱۷)



د قطر ( دوهې ښار) د يوې ښندی انځور

ودانيزې چارې يې خورا په چټکې سره مخ ته ځي او يوه مشهوره برخه يې په دهې ښار کې بنانا په نامه ياديږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د قطر ( دوهې ښار) د يوې څنډې انځور



د قطر د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د قطر د یوې ښندې انځور



د قطر د یوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۵. د قمر جزیره (کومر جزیرې)

,, کوموروس، د کوموروس د اتحادیې رسمي نوم سره (عربي: الإتتحاد القمري) د افریقا په سویل ختیځ کې او د هند بحر په اوبو کې موقعیت لري، د موزمبیق د ساحل ختیځ او د هند سمندر په اوبو کې موقعیت لري. د ماداګاسکر شمال لویدیځ. مساحت یې ۲۲۳۶ مربع کیلومترو ته رسیږي. دا هېواد د عرب لیګ غړی دی. د دې هېواد نوم قمر یا قمور تلفظ کوي، خو دا نوم د همدې عربي کلمې قمر څخه اخیستل شوی چې د سپوږمۍ معنی لري.
ودانیزې چارې یې چټکتیا نه لري.،، (۱۸)



د قمر جزیره (کومر جزیرې) د یوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د قمر جزيره (کومر جزيرې) د يوې څنډې انځور



د قمر جزيره (کومر جزيرې) د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶. کويت:**

,, کويت، د کويت د حکومت رسمي نوم سره، په لويديځ آسيا کې يو هېواد دی. کويت له عراق او سعودي عربستان سره ځمکنۍ پولې لري او د فارس خليج له لارې له ايران سره د اوبو پولې لري. پلازمېنه يې د کويت ښار دی. د دغه هېواد رسمي ژبه عربي ده او کرنسۍ يې کويتي دينار دی. د کويټ نفوس په ۲۰۲۱ کال کې ۴/۶۷ ميليونه و چې له دې جملې څخه ۱/۴۵ ميليونه يې د کويټ اتباع وو او ۳/۲ ميليونه يې له ۱۰۰ څخه د زياتو هېوادونو بهرنيان وو. د کويت ښار د پلازمينې ښاري ساحه د کويټ د ټولو اوسيدونکو ٦٠٪ عربان دي (کويټ او د نورو عربي هېوادونو اتباع). نيپالي نسل، بنګلاديش، تای، خمير، ايراني او تور. د کويټ د ډېرو اتباعو دين اسلام دی. په کويټ کې د اسلامي مذهبونو د پيروانو په اړه رسمي احصايې شتون نلري، مګر داسې اټکل کيږي چې د کويټ اتباع ٦٥-٦٠٪ سني او ٤٠-٣٥٪ شيعه دي.

د کويټ په سويل ختيځ کې د بورګان د تيلو ساحه په نړۍ کې دوهم لوی ساحلي ساحه ده چې د هېواد د تيلو د توليد لويه برخه چمتو کوي. د کويټ د توليد يوه برخه هم د هايدروکاربن د زيرمو لخوا په غير جانبدار زون کې چمتو کيږي چې د سعودي عربستان سره د پروسس ګډ سازمانونه لري. کويت په پام کې لري چې تر ۲۰۲۰ کال پورې د خپل توليد ظرفيت څلور ميليونه بيرلو ته لوړ کړي او دغه اندازه تر ۲۰۳۰ کال پورې وساتي.
ودانيزې چارې په دې هېواد کې په چټکۍ سره رواني دي.،، (۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library





کویت د یوې برخې انځور



کویت د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





کویت د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۷. لبنان:

,, لبنان، چې په رسمي ډول د لبنان جمهوریت په توګه پېژندل کېږي، د لویدیځې آسیا هېواد دی. د دغه هېواد شمال او ختیځ لوري ته سوریه او سویل ته یې اسرائیل موقعیت لري، په داسې حال کې چې قبرس یې په مدیترانې سمندرګي کې لویدیځ لوري ته پروت دی، د مدیترانې د حوضې او عربستان د داخلي نقاطو په تقاطع کې د دغه هېواد موقعیت د هغه له بډایه تاریخ سره مرسته کړې او د بېلابېلو مذهبونو نه جوړ کلتوري هویت یې وربخښلی. لبنان د نږدې شپږ میلیونه وګړو کور دی چې ۴۵۲ ۱۰ ۰۰۰ کیلومتر مربع (۴ زره ۳۶ مایل مربع) مساحت لري او د نړۍ یو له کوچنیو هېوادونو نه دی. د دولت رسمي ژبه یې عربي ده، په داسې حال کې چې فرانسوي هم په کې په رسمیت پېژندل شوې ده. لبناني عربي لهجه د معاصرې معیاري عربي په خوا کې په ټول هېواد کې کارول کېږي.

په لبنان کې د تمدن ثبت شوي شواهد له ثبت شوي تاریخ نه ۷۰۰۰ کلونو وړاندې ته اړوندېږي. د نن ورځې لبنان د فینکیانو کور و، سمندریز کلتور په کې ۳۰۰۰ کاله وړاندې (نږدې ۳۲۰۰ – ۵۳۹ کاله له میلاد وړاندې) وغوړېد. له میلاد ۶۴ کاله وړاندې د رومیانو سترواکي دغه سیمه ونیوله، چې په پایله کې د دغې سترواکۍ د عیسویت په مخکښ مرکز واوښت. د لبنان د غرونو لړۍ د یو رهباني کلتور د ظهور شاهدې وې چې د ماروني کلیسا په نوم یادېږي. د لومړنیو عرب مسلمانانو له خوا د دغې سیمې له فتح کولو وروسته، مارونیان په خپل هویت او مذهب کلک پاتې شول. په ورته مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې مذهبي ډله چې د دروزي په نوم پېژندل کېده، د لبنان په غرونو کې يې ځای ونيو چې تر څو پېړيو پورې يې مذهبي واټن رامنځته کړ. د صليبي جګړو پر مهال، مارونيانو يو ځل بيا له رومن کاتوليک کليسا سره اړيکه ټينګه کړه او له روم سره يې خپله اړيکه څرګنده کړه .

لبنان له پيل نه يو څه با ثباته هېواد و، خو دغه ثبات لنډ مهالی و چې د يو شمېر سياسي او ګوندي ډلو ترمنځ د لبناني کورنۍ جګړې پر مهال (۱۹۷۵-۱۹۹۰ ز کال) له منځه ولاړ.  په دغه دوره کې لبنان همدارنګه ۱۹۷۶-۲۰۰۵ ز کال پورې د سوريې او له ۱۹۸۵-۲۰۰۰ ز کال پورې د اسرائيلو د نظامي اشغال شاهد و. له جګړې وروسته د دغه هېواد د اقتصاد او ملي بنسټونو د بيارغولو په موخه ګڼ شمېر هڅې شوې دي .

لبنان له مخ پر ودې هېوادونو نه دی چې د انساني ودې د شاخص له مخې نوملړ کې ۹۲ ځای لري، چې د عربي نړۍ په منځ کې د فارس خليج د نفتي اقتصادونو وروسته لوړ ځای يې خپل کړی دی. دغه هېواد د لوړ منځني عايد لرونکي هېواد په توګه پېژندل کېږي. په داسې حال کې چې لبناني مالي بحران او فساد د دغه هېواد د پيسو د ارزښت د له منځه تلو، سياسي بې ثباتي، قحطۍ، لوړې بيکارۍ او بې وزلۍ لامل شوي.

ودانيزې چارې يې د فساد او ځينو کورني جګړو له کبله زيانمن شوي او په ورو بنه مخ په وړاندې ځي.،،(۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library





لبنان د يوې برخې انځور



لبنان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





لبنان د يوې برخې انځور



لبنان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





لبنان د يوې برخې انځور



لبنان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






لبنان د يوې برخې انځور



لبنان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸. لویديځه صحرا:

,, لويديځ صحارا د افريقا په شمال لويديز او د مراکش په سويل کې يوه سيمه ده چيرې چې د پوليساريو ليبريشن فرنټ او د مراکش سلطنت د کنټرول په اړه په شخړه کې دي.
په دې سيمه کې د نفوس کثافت په نړۍ کې ترټولو ټيټ دی او د هغې جغرافيه ډيره برخه د صحرا ميدانونه دي. تر ټولو لوی ښار يې العيون نوميږي، چې د لويديځ صحارا نيمايي نفوس په کې ځای لري.،،(۲۱)



لویدیځه صحرا د یوې برخې انځور



لویدیځه صحرا د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





لويديځه صحرا د يوې برخې انځور



لويديځه صحرا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۹. ليبيا (ليبى)**

,, ليبيا رسمي نوم يې د ليبيا دولت (دولة ليبيا) د شمالي افريقا په مغرب سيمه کې پروت هېوادی، چې شمال لور ته يې د مديترانې سمندر، ختيځ ته يې مصر، سويل ختيځ ته يې سوډان، سويل ته يې چاد، سويل لويديځ ته يې نيجر، لويديځ ته يې الجزاير، شمال لويديځ ته يې تونس پراته دي، له مالټا او ترکيې سره سمندري پوله لري. دا خپلواک هېواد له درې تاريخي سيمو جوړ شوی دی: طرابلس، فزان او برقة. د ۷۰۰۰۰۰ ميل مربع (يو اعشاريه اته ميليونه کيلو متره) سيمې په لرلو سره، ليبيا په افريقا کې څلورم ستر هېوا دی، له الجزاير وروسته په عربي نړۍ او عرب اتحاديې کې څلورم ستر هېواد او په نړۍ کې شپاړسم ستر هېواد دی. ليبيا په ټوله نړۍ کې په لسمه شمېره د تيلو ثابتې زېرمې لري. ددغه هېواد، ستر ښار او پلازمېنه طرابلس دی، دا ښار د ليبيا په لويديځ کې موقعيت لري، د ليبيا د اووه ميليونه خلکو له ډلې، له درې ميليونو نه زيات يې په دې ښار کې ژوند کوي.،،(۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library





ليبيا د يوې برخې انځور



ليبيا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ليبيا د يوې برخې انځور



ليبيا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰. مراکش:**

,, مراکش چې رسمي نوم يې د مراکش سلطنت دی،د شمالي افريقا د مغرب سيمې په لرې شمال لويديځ کې پروت دی. شمال لور ته د مديترانې سمندر او لويديځ لور ته د اتلانتيک اقيانوس په لوړو ځنډو موقعيت لري، ختيځ لور ته له الجزاير سره ځمکنۍ پوله لري، سويل لور ته يې د سويلي سهارا لانجمنه سيمه پرته ده. مراکش په سبتة، مليله، پنون دي ولز دې لا ګومرا سيمو هم دعوه لري چې د هسپانيې تر واک لاندې دي، مراکش د هغو ګڼو ټاپوګانو د ملکيت مدعي هم دی چې د هسپانيې په ساحلونو کې د هغه هېواد تر واک لاندې دي. سيمه يې ۴۴۶،۵۵۰ کيلو متره (۱۷۲،۴۱۰ ميل مربع) يا ۷۱۰،۸۵۰ کيلو متره (۲۷۴،۴۶۰ ميل مربع) ده، د وګړو شمېر يې نږدې اووه دېرش ميليونه دی. رسمي او په هېواد کې واکمن دين اسلام دی، رسمي ژبې يې عربي او بربري دي؛ په مراکشي لهجه عربي او فرانسوي هم ډېر خلک خبرې کوي. مراکشي پېژندګلو او کلتور د بربري، عربي او اروپايي کلتورونو ګډوله او خوځنده کلتور دی. پلازمېنه يې رباط او ستر ښار يې دار البيضاء دی .

د نېواکګرو واکمنيو پر ضد د نړيوالو بريدونو او پاڅونونو نه وروسته، په ۱۹۵۶ز کال کې مراکش يو ځل بيا خپلواکي تر لاسه او سره متحد شو.،،(۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library





مراکش د يوې برخې انځور



مراکش د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مراکش د يوې برخې انځور



مراکش د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۱. مصر:

,, مصر چې رسمي نوم يې د مصر عربي جمهوريت دی، په څو لويو وچو کې پروت هېواد دی چې د افريقا شمال ختيځ کونج او د اسيا سويل لوېديځ کونج ته د سينا ټاپووزمې نه جوړ شوي يوه ځمکني پول په مټ غځېدلی دی. مصر د مديترانې په حوزه کې پروت دی، شمال ختيځ ته د غزې له تړانګې (فلسطين) او اسرائيلو سره ګډه پوله لري، ختيځ ته يې د عقبة خليج او سور سمندر، سويل ته يې سوډان او لوېديځ ته يې ليبيا پراته دي. د عقبة خليج بلې غاړې ته اردن، د سور سمندر بلې غاړې ته سعودي عربستان او د مديترانې بلې غاړې ته يې يونان، ترکيه او قبرص پراته دي، خو دا يو هم له مصر سره ځمکنۍ پوله نه لري.

د بل هر هېواد په پرتله مصر تر ټولو اوږد تاريخ لري، د نيل د ډلټا په اوږدو کې د دې هېواد ميراث له زېږد مخکې شپږمې او څلورمې زرېزې ته رسېږي. لرغونی مصر چې د لرغوني تمدن زانګو بلل کېږي، د ليکلو، کرنې، ښارمېشتېدنې، منظم دين او مرکزي حکومتولۍ د ودې د لومړيو پرمختګونو شاهد و. د الجيزة د مقبرې، ابو الهول، د ممفيس ويرانۍ، طيبه، کرنک او د پاچايانو درې په څېر مشهور يادګارونه د دې ميراث څرګندونه کوي، په ورته وخت کې د علمي او ولسي مهمې توجه مرکز ګرځېدلی. د مصر اوږد او شتمن کلتوري ميراث د دې هېواد د ملي هويت نه جلا کېدونکې برخه ده، کوم چې په دوو لويو وچو کې د دې هېواد د موقعيت څرګندونه کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه په يو وخت کې مديترانه، منځني ختيځ او شمالي افريقا کې د دې هېواد شتون دی.

اسلام د مصر رسمي دين او عربي يې رسمي ژبه ده. له سل ميليونه نه د زياتو وګړو په لرلو سره مصر په شمالي افريقا، منځني ختيځ او عربي نړۍ کې تر ټولو زيات نفوس لرونکی هېواد دی، په افريقايي هېوادونو کې درېيم زيات نفوس لري (له نايجيريا او ايتوپيا وروسته) او په نړۍ کې څوارلسم هغه هېواد دی چې زيات نفوس لري. ډېری اوسېدونکي يې د نيل سيند پر څنډو ژوند کوي، دا سيمه ۴۰۰۰۰ کيلو متره (۱۵۰۰۰ ميل مربع) مساحت لري او دا هغه سيمه ده چې د کرنې لپاره ځمکه په کې موندل کېږي. د سهارا دښتې پراخه سيمو کې ډېر کم خلک ژوند کوي، کومه چې د مصر ډېره ځمکه پوښي. د مصر نژدې نيمايي اوسېدونکي په ښاري سيمو کې ژوند کوي، له دوی نه ډېری يې د قاهرې، سکندريې او د نيل ډيلټا په نورو ګڼ مېشتو ښارونو کې خپاره شوي دي .

مصر په شمالي افريقا، منځني ختيځ او اسلامي نړۍ کې يو سيمه ييز ځواک بلل کېږي، خو په ټوله نړۍ کې د منځني ځواک په سترګه ورته کتل کېږي. مصر د متنوع اقتصاد لرونکی دی، له اقصادي اړخه په افريقا کې دويم ستر ځواک، په نړيواله کچه د کورني ناخالص توليد له پلوه دري دېرشم او د پی پي پي له نظره د نړۍ شلم ستر اقتصاد لري. مصر د ملګرو ملتونو، بې پرې خوځښت، عرب اتحاديې، افريقايي اتحاديې، اسلامي همکاريو سازمان او ځوانانو د نړيوالې ټولنې له بنسټ اېښودونکو غړو نه دی .،، (۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library





مصر د یوې برخې انځور



مصر د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مصرد یوې برخې انځور




مصر د یوې برخې مودل انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مصر د يوې برخې انځور



مصر د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۲. موریتانیا:

,, په رسمي ډول د موريتانيا اسلامي جمهوريت (عربي: الجمهورية الاسلامية الموريتانية) دی، چې د شمال لويديځې افريقا يو خپلواک دولت دی. لويديځ ته له اتلانتيک سمندر، شمال او شمال لويديځ ته له سويلي صحرا، شمال ختيځ ته له الجيريا، ختيځ او سويل ختيځ ته له مالي او سويل لويديځ ته له سينيګال سره ګډه پوله لري. دا هېواد په افريقا کې يوولسم تر ټولو پراخه هېواد دی او ۹۰ سلنه خاوره يې د افريقا په لويه دښته کې پرته ده. د ۴،۴ ميليونه وګړو زياتره برخه يې د هېواد په منځني سوېل کې ژوند کوي او نږدې درېيمه برخه يې په پلازمېنه او پراخه ښار نواکچوټ کې متمرکز ده، چې پر اتلانتيک ساحل باندې پروت دی .

نومورې هېواد په کلتوري او سياسي ډول د عربي نړۍ برخه دی. د عرب يووالي غړی دی او عربي يې يوازينۍ رسمي ژبه ده. رسمي دين يې اسلام دی او نږدې ټول اوسېدونکي يې سني مسلمانان دي.

د اوسپنې فلز لرونکې ډبرې او نفتو په ګډون د طبيعي سرچينو د پرېمانۍ يا ډېرښت سره سره يو غريب هېواد پاتې کېږي. اقتصاد يې په بنسټيز ډول پر کرنې، کورنيو ژوو او کب نيونه باندې ولاړ دی. دا هېواد د نړۍ تر ټولو وروستی هېواد دی، چې په ۱۹۸۱ ز کال کې يې غلامي له منځه يو وړه او په ۲۰۰۷ ز کال کې يې جرم وګڼله. ،، (۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library





موریتانیا د یوې برخې انځور



موریتانیا د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۳. یمن:**

,, یمن، په رسمي ډول د یمن جمهوري هېواد (عربي: ٱلْجُمْهُورِيَّةُ ٱلْيَمَنِيَّةُ) چې له تاریخي پلوه د سویلي عربستان (عربي: العربیة السویلیة) په نوم پېژندل کېږي، د لویدیځې آسیا هېواد دی چې د عرب ټاپووزمې په سویلي څنډه کې موقعیت لري. له شمال لوري له سعودي عربستان او له شمال ختیځ لوري له عمان سره ګاونډی دی او له ایرتیریا، جیبوتي او سومالیا سره ګډې سمندري پولې لري. دغه هېواد، د مساحت له مخې په عرب ټاپووزمه کې دویم لوی عربي خپلواک هېواد دی، چې مساحت یې ۵۵۵ زره کیلومتر مربع (۲۱۴ زره مایل مربع) دی. ساحلي کرښې یې نږدې ۲۰۰۰ کیلومتره (۱۲۰۰ مایله) اوږدوالی لري. د اساسي قانون له مخې د دغه هېواد پلازمېنه او لوی ښار صنعا دی. په ۲۰۲۱ ز کال کې د دغه هېواد د وګړو شمېر ۳۰ میلیونه او ۴۹۱۰۰۰ کسه اټکل شوی دی .

په لرغوني مهال کې، یمن د سبائیانو کور او یو سوداګریز هېواد و چې د معاصرې ایتوپیا او ایرتیریا یو شمېر برخې په کې شاملېدلې. په ۲۷۵ ز کال کې د حمیر پاچهي (په یمن کې د هغه مهال پاچهي وه چې یمن ته هم د حمیر هېواد ویل کېده) د یهودیت تر اغېز لاندې راغله. عیسویت په څلورمه پېړۍ کې دغه هېواد ته راغی. اسلام په دغه هېواد کې په اوومه پېړۍ کې په پراخه کچه پراختیا ومونده او په لومړنیو اسلامي فتوحاتو کې یمني ځواکونو مهم رول درلود.

،، (۲۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library





يمن د يوې برخې انځور



يمن د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





يمن د يوې برخې انځور



يمن د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





يمن د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





يمن د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





يمن د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په منځني ختيځ کې (غير عرب هېوادونه)

### ۲۴. ايران:

,, ايران چې فارس هم بلل کېږي او رسمي نوم يې د ايران اسلامي جمهوريت دی، په لويديځه اسيا کې پروت هېواد دی. په شمال لويديځ کې له ارمنستان او اذربايجان سره، په شمال کې د کسپين له سمندر سره، په شمال ختيځ کې له ترکمنستان سره، په ختيځ کې له افغانستان سره، په سويل ختيځ کې له پاکستان سره، په سويل کې د فارس له خليج او عمان له خليج سره او لويديځ لور ته د ترکيې او عراق سره ګډه پوله لري. د ۱۶۴۸۱۹۵ کيلو متره مربع (۶۳۶۳۷۲ ميل مربع) مساحت په لرلو سره، ايران په اسيا کې پنځم سترهېواد دی او په منځني ختيځ کې (له سعودي عربستان وروسته) دويم ستر هېواد دی. د پنځه اتيا ميليونه وګړو په لرلو سره، په نړۍ کې د نفوسو له پلوه اولسم هېواد دی. پلازمېنه او ستر ښار يې تهران دی .

ايران د نړۍ د لرغونو تمدنونو يو کور دی، چې پيل يې له زېږد مخکې په څلورمه زريزه کې د عيلامي پاچايۍ له جوړېدو راهيسي شوی دی. ايران په لومړي ځل له زېږد مخکې په اوومه پېړۍ کې د ميديانو له خوا سره يو کړای شوی و، له زېږد مخکې په شپږمه پېړۍ کې يې ځمکه د پراختيا لوړې کچې ته ورسېده، کله چې ستر کوروش هخامنشي ستراوکي جوړه کړه، کومه چې په تاريخ کې يوه له سترو ستراوکيو نه وه، ايران د نړۍ د لومړي زبرځواک په توګه پېژندل کېږي. دا ستراوکي له زېږد مخکې په څلورمه پېړۍ کې ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکندر ونيوله او په ګڼو هلنيستي ايالتونو ووېشل شوه. د ايرانيانو د يوه بغاوت په پايله کې له زېږد مخکې په درېيمه پېړۍ کې اشکاني سترواکي رامنځ ته شوه، له زېږد وروسته په درېيمه پېړۍ کې د همدې سترواکۍ ځای ساساني سترواکۍ ونيو او ساساني سترواکي د راتلونکو څلورو پېړيو لپاره د نړۍ يو ستر ځواک وګرځېد. عرب مسلمانانو په اوومه زېږديزه پېړۍ کې دا سترواکي ونيوله چې د ايران اسلامي کولو ته يې لاره پرانيسته. د پايلې په توګه ايران د اسلامي کلتور او زده کړو يو ستر مرکز وګرځېد، د ايران هنر، ادبيات، فلسفه او معماري په ټوله اسلامي نړۍ او د اسلام په زرين پير کې له اسلامي نړۍ بهر خپاره شول. په راتلونکو دوو پېړيو کې، له ترکي سلجوقيانو او مغولو له خوا د دې سيمې له نيواک مخکې د اصلي مسلمانو کورنيو د واکمنيو څو لړۍ راپورته شوې. په پنځلسمه پېړۍ کې، اصلي صفاريانو يو ځل بيا د متحده ايران او ملي هويت دولت جوړ کړ او هېواد يې په شيعه اسلام واړاوه. په اتلسمه پېړۍ کې د نادرافشار تر واکمنۍ لاندې، ايران يو ځل بيا په ستر نړيوال ځواک بدل شو، خو په نولسمه پېړۍ کې له روسيې سره د جګړو د يوې لړۍ په پايله کې ايران د پام وړ ځمکې له لاسه ورکړې.

ايران يو سيمه ييز او منځنۍ ځواک دی، له جيوپوليټيکي پلوه د اسيا په لويه وچه کې ستراتيژيک موقعيت لري.،، (۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library





ايران د يوې برخې انځور



ايران د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ايران د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۵. ترکيه:

,, ترکيه چې رسمي نوم يې د ترکيې جمهوريت دی، عمدتاً د اسيا په لويديځ کې په اناتوليا او ډېره کمه برخه يې په سويل ختيځه اروپا د بالکان په سيمه کې پرته ده. شمال لويديځ لور ته له يونان او بلغاريې، شمال لور ته له تور سمندر، شمال ختيځ ته له ګرجستان، ختيځ ته له ارمنستان، اذربايجان او ايران، شمال ختيځ ته له عراق، سويل لور ته له سوريې او مديترانې سمندر او لويديځ لور ته له ايجين سمندر سره ګډه پوله لري. د دې هېواد غوښ اکثريت وګړي ترکان دي، کردان يې ستر لږکي دي. انقره د ترکيې پلازمېنه، استانبول يې شاهي پلازمېنه، ستر ښار او مالي مرکز دی.

اوسنۍ ترکيه، کوم ځای چې د نړۍ په کچه د انسانانو د لومړيو ميشت ځايونو له ډلې دی، د ګوبکلي تپې په څېر د مهمو نوي ډبرين عصر د سيمو کور دی، همدا راز د هيتيانو، د اناتوليا د نورو خلکو او مسيني يونانيانو په څېر لرغوني تمدنونه دلته ميشت شوي دي. د ستر سکندر له فتوحاتو وروسته چا چې هلينستي پړاو پيل کړ، په اوسنۍ ترکيه کې ډېرې لرغونې سيمې له کلتوري اړخه يوناني شوې چې د بيزانس په پير کې يې هم دوام وموند. په يوولسمه پېړۍ کې سلجوقي ترکانو کوچ پيل کړ، په ۱۲۴۳ز کال کې د مغولو تر بريدونو پورې د روم سلطنت په اناتوليا واکمني وکړه او له دې وروسته دا سيمه په کوچنيو ترکي واکمنيو ووېشل شوه. د ديارلسمې پېړۍ په وروستيو کې عثمانيانو د دې کوچنيو واکمنيو په يو ځای کولو پيل وکړ، بالکان يې ونيو او د عثماني پړاو پر مهال د اناتوليا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکي کېدلو وده وکړه. دويم محمد په ۱۴۵۳ز کال کې قسطنطنيه (استانبول) ونيوه او د لومړي سليم د واکمنۍ پر مهال هم د عثماني پراختيا دوام پيدا کړ. د سليمان القانوني د واکمنۍ پر مهال عثماني سترواکي په نړيوال ځواک بدله شوه. د اتلسمې پېړۍ له وروستيو څخه راپډېخوا، د ډېرو سيمو په له لاسه ورکولو سره د ستروکۍ ځواک مخ پر کمېدو شو. دويم محمود د نولسمې پېړۍ په لومړيو کې د نويتابه بهير پيل کړ. د ۱۹۰۸ز کال د ځوانو ترکانو انقلاب د سلطان واک محدود کړ، د ډېرش کلونو ځنډ وروسته يې عثماني پارلمان بيا راژوندی کړ او دا سترواکي يې د څو ګونديز پړاو ته داخله کړه. د ۱۹۱۳ز کال کودتا دا هېواد د درې پاشاګانو تر واک لاندې راوست، دوی په ۱۹۱۴ز کال کې د مرکزي قوتونو د برخې په توګه په لومړۍ نړيواله جګړه کې د ستروکۍ له داخلېدو سره مرسته وکړه. د جګړې پر مهال، عثماني حکومت د ارمنيانو او اشوريانو په وړاندې ټولوژنه تر سره کړه. په جګړه کې له ماتې وروسته، عثماني ستروکي ووېشل شوه .

ترکيه د جيوپوليټيک ستراتيژيک موقعيت له مخې يو سيمه ييز ځواک او تازه په تازه صنعتي شوی هېواد دی. د ترکيې اقتصاد، کوم چې د پورته کېدونکي او د ودې په حال کې اقتصادونو کې ډلبندي شوی، د ناخالص کورني اسمي توليد له نظره د نړۍ شلم ستر اقتصاد او د پي پي پي له اړخه د نړۍ يوولسم ستر اقتصاد دی.،، (۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library





ترکې د يوې برخې انځور



ترکې د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ترکې د يوې برخې انځور



ترکې د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په منځنۍ او سويلي اسيا کې

### ۲۶. ازبکستان:

,, ازبيکستان چې رسمي نوم يې د اوزبيکستان جمهوريت دی، په مرکزي اسيا کې په غبرګ ډول (ګاونډي هېوادونه يې هم په وچه کې ايسار دي) په وچه کې ايسار هېواد دی. دا هېواد له پنځو داسې هېوادونو سره پوله لري چې په وچه کې ايسار دي، هغه هېوادونه دا دي: قزاقستان يې شمال ته، قرغزستان يې شمال ختيځ ته، تاجيکستان يې سويل ختيځ ته، افغانستان يې سويل ته او ترکمنستان يې سويل لويديځ ته پراته دي. پلازمېنه او ستر ښار يې تاشکند دی. اوزبيکستان د ترکي ژبو د نړۍ غړی دی، د ترکي شورا غړيتوب هم لري. په اوزبيکستان کې غوڅ اکثريت خلک په اوزبيکي ژبه خبرې کوي، روسي ژبه د خلکو دويمه ژبه ده. اسلام په اوزبيکستان کې واکمن دی، اکثريت اوزبيکستانيان سني مسلمانان دي .

د خوارزميانو سيمه بيزه واکمني او توله مرکزي اسيا په ديارلسمه پېړۍ کې د مغولو د بريد له امله له منځه ولاړه او له دې وروسته، دا سيمه د ترکانو تر واک لاندې راغله. د شهرسبز ښار د ترکي-مغولي فاتح تيمور (ګوډ تيمور) د زيږېدو ځای دی، چا چې په څوارلسمه پېړۍ کې تيموري ستر واکي جوړه کړه او په خپله پلازمېنه سمرقند کې د توران د ستر امير په توګه معرفي شو، همدا ښار د الغ بيګ د واکمنۍ پر مهال د علومو مرکز وګرځېد او تيموري رنسانس له همدې ځايه پيل شو. په شپاړسمه پېړۍ کې د تيموري واکمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمې د اوزبيک شيبانيانو له خوا ونيول شوې او د ځواک مرکز يې بخارا ته ولېږداوه. دا سيمه په درې ايالتونو ووېشل شوه: د خيوې خانات، د خوقند خانات اود بخارا امارت. د ختيځ پر لور د سترواک بابر فتحې د مغولو د سترواکۍ تر عنوان لاندې پر هند د نويو بريدونو بنسټ کېښود. د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې ټوله مرکزي اسيا، کرار کرار د روسي ستروکۍ برخه شوه او تاشکند د روسي ترکستان سياسي پلازمېنه شوه. په ۱۹۲۴ز کال کې، د شوروي اتحاد په دننه کې د ملي پولو په ټاکلو سره اوزبيکستان د يوه اوزبيک شوروي سويال جمهوريت په ډول خپلواک جمهوريت شو. د شوروي اتحاد تر منحل کېدو وروسته، د ۱۹۹۱ز کال د اګست په يو دېرشمه نېټه يې د اوزبيکستان جمهوريت په نوم خپلواکي اعلان کړه .

اوزبيکستان يو سيکولر هېواد دی، دولتي نظام يې پر اساسي قانون ولاړ جمهوري رياستي دی. اوزبيکستان له دولسو ولايتونو، تاشکند ښار او د کاراکلپکستان په نوم د يوې خپلواکې سيمې نه جوړ دی.

د اوزبيکستان اقتصاد د بازار په تدريجي لېږد ولاړ او بهرنۍ سوداګريزه تګلاره يې د وارداتو پر ځای نيولو ده. د ۲۰۱۷ز کال د سپتمبر په مياشت کې، د دې هېواد دودپيسه په بشپړ ډول د بازار په نرخ د بدلېدو وړ وګرځېده. اوزبيکستان د پنبې ستر توليدونکی او صادرونکی دی. په داسې حال کې چې د شوروي له وخته د برېښنا د توليد ستر تاسيسات او زيات طبيعي ګاز وړاندې کوي، اوزبيکستان په مرکزي اسيا کې د برېښنا توليد تر ټولو ستر توليدونکی هېواد دی. ،، (۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library






ازبکستان د یوې برخې انځور



ازبکستان د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۷. افغانستان:

,, **افغانستان**، رسماً **د افغانستان اسلامي امارت** په غرونو کې کلابند يو هېواد دی چې د آسيا په زړه کې پروت دی. په تولیزه توګه دا هېواد د منځنۍ اسيا يوه برخه ده، خو کله ناکله بيا په داسې سيمه ځرګنده شوې ده چې نه په منځني ختيځ او نه پر سوېلي آسيا پورې تړلې ده، او دا په دې چې دغه سيمه د منځني ختيځ او سوېلي اسيا سره هڅوبيز، ژبتوکميز او جغرافيکي اړيکې لري. دا هېواد په لوېديځ کې په سوېل او ختيځ کې له پاکستان سره د د ډيورنډ کرښه فرضي پوله، په شمال ختيځ کې له چين سره، په شمال کې له تاجيکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډې پولې لري.

په ۱۷۴۷ زيږديز کال کې افغانستان د لومړي ځل له پاره د احمد شاه بابا له خوا د دولت په توګه اعلان او د هغه پولې معلومې شوې. افغانستان د لوېديځ او ختيځ په څلور لارې کې پروت او د بېلابېلو قومونو او کلتورونو کور دی. دا يو ډېر لرغونی هېواد دی او د تاريخ له نظره دا يو لوی سوداګريز مرکز پاتې شوی او په همدې توګه په بېلابېلو وختونو کې د بېلابېلو قوتونو له خوا تر يرغل لاندې راغلی او لوټ تالان شوی دی. د تاريخ په اوږدو کې دا سيمه د فارس، مقدونيانو، عربانو، مغولو، ترکانو، او يونانيانو لخوا نيول سوې. نوی افغانستان د لومړي ځل له پاره د درېيم افغان-انګليس جګړې وروسته په ۱۹۱۹ کال کې د يوه خپلواک هېواد په توګه هغه وخت راڅرګند شو کله چې بهرنيانو د افغانستان په چارو کې لاسوهنه پرېښوده. په دغه هېواد د روسيې د يرغل وروسته، په هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې بد امني، خپلمنځي جګړې د یوولسم د سپټامبر د پېښې نه وروسته د امریکا یرغل د دغه هېواد تاریخ ویجاړ کړ.

د دغو ناخوالو په پایله کې اوس افغانستان د بیا ودانېدو په لوري روان دی، دا یوه داسې هڅه ده چې د اوږدمهالې جګړې او د هغه ویجاړیو چې د کلونو کلونو وسله والو نښتو په نتیجه کې منځ ته راغلې ځواب ووایي او همدا نوی حکومت هم د ملت په یووالي کې او د هېواد د بیا جوړولو په درشل کې خپل ګامونه پورته کړي، خو لا تر اوسه پورې نه دی بریالی شوی چې په هېواد کې په بشپړه توګه امن او ورورګلوي راولي. افغانستان د خورا ډېرو ستونزو سره مخامخ دی، د نړېدلي اقتصادي نظام نه رانیولې، د میلیونونو مهاجرینو د بېرته ستنېدو پورې، د مخدره توکو قاچاق، د جنګسالارانو شته والی او په شته حکومت کې د بېلابېلو سیاسي ګوندونو مخالفتونه، دا ټول هغه لاملونه دي چې د اوسمهال حکومت ورسره لاس او ګرېوان دی او همدا ټولې ستونزې دي چې یوویشتمې پېړۍ د افغانستان ځرګندونه کوي.،، (۳۰)



افغانستان د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





افغانستان د يوې برخې انځور



افغانستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





افغانستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





افغانستان د يوې برخې انځور




افغانستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۸. بنګلادیش:**

,, په رسمي توګه بنګله دېش د خلق جمهوريت په توګه په سويلي اسيا کې يو هېواد دی. دا په نړۍ کې اتم ډېر نفوس لرونکی هېواد دی، چې ۱٤۸,٤٦۰ کيلومتر مربع (۵۷,۳۲۰ ميل مربع) يا ۱٤۷,۵۷۰ کيلومتره مربع (۵٦,۹۸۰ ميل مربع) مساحت لري او ۱٦۳ ميليونه نفوس لري او په نړۍ کې يو له ډېر نفوس لرونکو هېوادونو نه شمېرل کيږي. بنګله دېش په لوېديځ، شمال او ختيځ کې له هند سره او په سويل ختيځ کې له ميانمار سره ځمکنۍ پولې لري، سويل ته يې له بنګال خليج سره يو ساحل شته. دا د سليګوری دهليز په واسطه له نيپال او بوتان نه په لنډ ډول جلا شوی او له چين نه په شمال کې د هند له سيکيم ايالت نه ۱۰۰ کيلومتره لرې دی. ډاکه يې پلازمېنه او لوی ښار دی، چې د هېواد اقتصادي، سياسي او کلتوري مرکز هم دی. چيټاګنګ يې تر ټولو لوی بندر او دويم لوی ښار دی. رسمي ژبه يې بنګالي ده، چې د هند واروپايي ژبې د کورنۍ يو له ختيځو څانګو نه ده.

بنګله دېش، د بنګال د تاريخي او توکميزو ژبو خپلواکه برخه جوړوي، چې په ۱۹٤۷ز کال کې د بريتانوي هند د وېش پرمهال وېشل شوې وه. دغه هېواد د بنګالي مسلمانانو اکثريت لري. لرغونی بنګال د هند په نيمه وچه کې د وانګ، پنډرا، ګنګاريډای، ګوډا، سماتتا او هريکيلا ايالتونو يو مهم کلتوري مرکز و. موريان، ګوپتا، پالا، سينا، چندر او ديوا کورنۍ له اسلام نه مخکې د بنګال وروستۍ واکمنۍ وې. د بنګال د مسلمانانو فتحه په ۱۲۰٤ز کال کې هغه وخت پيل شوه، چې بختيار خلجي پر شمالي بنګال واکمن شو او تبت يې اشغال کړ. کله چې ډيلي د سلطنت يوه برخه شو، نو په ۱٤مه پېړۍ کې درې ښاري ايالتونه راڅرګند شول، چې د ختيځ بنګال ډېره برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سونارګاون نه اداره کېده. د سلطان بلخي، شاه جلال او شاه مخدوم روپو په څېر صوفي میسیونر مشرانو د مسلمانانو د واکمنۍ په خپراوي کې مرسته وکړه. دغه سیمه له یوه خپلواک او واحد بنګال سلطنت سره یوځای شوه .

مغلي بنګال په ۱۸مه پېړۍ کې د بنګال د نوابانو په مشرۍ په زیاتېدونکې توګه قاطع او خپلواک شو. په ۱۷۵۷ز کال کې میرجعفر خیانت، نواب سراج الدوله ته د بریتانوي ختیځ هند شرکت لپاره ماتې ورکړه او بالاخره په سویلي اسیا کې د بریتانیا واکمنۍ پای ته ورسېده. د بنګال صدارت په بریتانوي هند کې تر ټولو لوی اداري واحد ته وده ورکړه او په ۱۹۰۵ز کال کې یې د بنګله دېش رامنځته کېدو لپاره د ختیځ بنګال او اسام رامنځته کول یو بنسټ وټاکه.

په ۱۹٤۷ز کال کې، ختیځ بنګال د پاکستان په واک کې تر ټولو نفوس لرونکی ولایت شو. دا د ختیځ پاکستان په نوم بدل شو او ډاکه د هېواد مقننه پلازمېنه شوه. په ۱۹۵۲ز کال کې د بنګالي ژبې خوځښت، د ختیځ بنګال مقننه ټاکنې، ۱۹۵۴ز، د ۱۹۵۸ز پاکستان

بنګله دېش یو واحد پارلماني او د اساسي قانون درلودونکی جمهوریت دی، چې د ویسټ منسټر سیستم پراساس دی. بنګالیان د بنګله دېش د ټول نفوس ۹۸٪ جوړوي او د بنګله دېش ډېر مسلمان نفوس د دې لامل شوی، چې بنګله دېش په نړۍ کې دریېیم ډېر مسلمان لرونکی هېواد شي.،، (۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library





بنګلادیش د یوې برخې انځور



بنګلادیش د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۹. پاکستان:**

,, **پاکستان** (د پاکستان اسلامي جمهوريت) په سويلي- منځنۍ اسيا کې يو هېواد دی چې څلور ولايتونه او دوه سيمې لري، په شمول د خيبر پښتونخوا، د پاکستان يوه پښتني سيمه.

د ژبې له پلوه په اردو او فارسي ژبه کې د پاکستان معنا ده «له پاکي برخمنه ځمکه» يا «هغه ځمکه چې پاک په کې زيات دي». په دې نوم کې «پاک» ته اشاره شوې چې په فارسي او پښتو کې «پاک او صفا» ته ويل کيږي. وروستاړی يې «ستان» له فارسي ژبې اخستل شوی او معنا يې ده «د اوسېدو ځای.«

دا نوم په ۱۹۳۳ز کال کې د پاکستان د خوځښت د يوه فعال چودري رحمت علي له خوا جوړ شوی و، کوم چې هغه په يوه رساله کې خپور کړ«اوس يا کله هم نه»، نوموړي دا نوم په مخفف ډول کارولی و: «په پاکستان کې اوسېدونکي دېرش ميليونه ورونه»، په دې نوم کې د برتانيې د حکومت پنځو شمالي سيمو ته اشاره شوې وه، چې هغه دا دي:

پنجاب، افغانيه، کشمير، سيند او بلوچستان.،، (۳۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library





پاکستان د یوې برخې مودل انځور



پاکستان د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۰. تاجکستان:

,, تاجيکستان، په رسمي ډول د تاجيکستان جمهوريت) په تاجيکي : ، لاتين ډول :د مرکزي آسيا په وچه کې را ايسار  هېواد دی. مساحت يې ۱۴۳۱۰۰ کيلومتر مربع (۵۵۳۰۰ مايل مربع) او د وګړو اټکليز شمېر يې ۹۵۳۷۶۵۴ کسه دی. دوشنبه يې مرکز او لوی ښار دی. له سويل لوري له افغانستان، له لويديځ لوري له اوزبيکستان، له شمال لوري له قرغزستان او له لويديځ لوري له چين سره پوله لري. د تاجيک وګړو سنتي کور اوسنی تاجيکستان او د افغانستان او اوزبيکستان يو شمېر برخې دي .

دغه سيمه چې اوسنی تاجيکستان جوړوي، پخوا د ګڼ شمېر لرغونو کلتورونو کور و چې د نيوليتيک او برونزو د دورې سرزم ښار په کې شامليږي، چې وروسته بيا بېلابېلو باورونو او کلتورونو ته اړوندې پاچهۍ په کې تېرې شوې، چې د آمو سيند تمدن، آندرونوو کلتور، بوديزم، د ختيځ کليسا، هندويزم، زردشتي دين، ماني آيين او اسلام په کې شامليږي.

تاجيکستان يو ولسمشريز جمهوريت دی چې څلور ولايتونه لري. د تاجيکستان ډېری وګړي د تاجيک قوم اړوند دي، په تاجيکي ژبه خبره کوي، تاجيکي يې لومړۍ رسمي ژبه ده ،چې د افغانستان او ايران په ګډون دريېم فارسي ژبه ويونکی هېواد دی. روسي ژبه يې د قومونو ترمنځ د رسمي ژبې په توګه کارول کيږي. په داسې حال کې چې دولت يې د اساسي قانون له مخې سيکولر دی، ٪۹۸ سلنه وګړي يې مسلمانان دي. د بدخشان په غرني خود مختاره ولايت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له دې سره چې ډېر کم وګړي استوګن دي، خو ګڼ شمېر ژبني توپيرونه په کې شتون لري، چې روشاني، شغناني، واخي او تاجيکي ژبې په کې ويل کېږي. غرونه د دغه هېواد ۹۰ سلنه برخه پوښي. دغه هېواد له مخ پر ودې هېوادونو نه دی چې اقتصاد يې له متمرکز سيستم نه د بازار سيستم ته په اوښتو دی او په لوړه کچه د پيسو په حواله او د المونيم او پنبې په توليد تکيه لري. تاجيکستان د ملګرو ملتونو سازمان، خپلواکو مشترک المنافع هېوادونو د ټولنې، د اروپا د آمنيت او همکارئ سازمان، اسلامي همکاريو سازمان، اقتصادي همکاريو سازمان يا ايکو، شانګهای همکاريو سازمان، د ټوليز امنيت تړون سازمان او د سولې ټينګېدو په برخه کې د ناتو د مشارکتي پروګرام غړيتوب لري.،، (۳۳)




تاجکستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





تاجکستان د يوې برخې انځور



تاجکستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳۱. ترکمنستان:

,, ترکمنستان په لویدیځه اسیا کې په وچه کې را ایسار هېواد دی، چې شمال لویدیځ ته یې قزاقستان او شمال ختیځ ته یې اوزبیکستان، سویل ختیځ ته یې افغانستان، سویل او سویل لویدیځ ته یې ایران او لویدیځ ته یې کسپین یا خزر سیند موقعیت لري. د دغه هېواد پلازمېنه او لوی ښار عشق آباد دی. د مرکزي اسیا په هېوادونو کې کم نفوس لرونکی هېواد دی چې د وګړو شمېرو یې ۶ میلیونه کسو ته رسیږي. ترکمنستان په اسیا کې تر ټولو لږ وګړي لري. وګړي یې د ترکمنانو په توګه پېژندل کیږي (چې د قومیت پر ځای یې په تابعیت ټینګار شوی دی) .

دغه سیمه چې اوس مهال د ترکمنستان په نوم پېژندل کیږي، له ډېر مهاله یې د ګڼ شمېر نورو ملتونو او کلتورونو د لارې په توګه عمل کړی. مروه یې د منځنی آسیا یو له پخوانیو آبادو ښارونو او د نړۍ یو له لویو ښارونو نه دی. په منځنیو پېړیو کې مروه د اسلامي نړۍ یو له لویو ښارونو او د ورېښمو لارې له مهمو تم ځایونو نه وه.

ترکمنستان د طبیعي ګازو د زېرمو له مخې د نړۍ څلورم هېواد دی. د دغه هېواد ډېره برخه د قرا قروم یا توري شګلنې دښتې په واسطه چاپېر شوی دی. له ۱۹۹۳ ز کال نه تر ۲۰۱۷ ز کال پورې، د دغه هېواد وګړو د دولت له خوا په وړیا ډول برېښنا، اوبو او طبیعي ګازو ته لاسرسی درلود .

دغه هېواد د کمو بشري حقونو له امله په ځانګړې توګه له لږه کیو سره دچلند، مطبوعاتو د آزادۍ او مذهبي ازادیو په برخو کې له پراخو نیوکو سره مخامخ شوی دی. په ۱۹۹۱ ز کال کې، له شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد نه له خپلواکۍ وروسته، د ترکمنستان خپلواک دولت د دوو ځيونکو توتاليتر رژيمونو له خوا اداره کېږي. سفر مراد نيازوف (چې د ترکمن باشي يا «د ترکمنانو مشر» په توګه پېژندل کېږي)، تر ۲۰۰۶ ز کاله يعنې تر مړينې پورې يې د دغه هېواد ولسمشر و. په ۲۰۰۷ ز کال کې د غير ديموکراتيکو ټاکنو په پايله کې قربان علي بردي محمدوف (نوموړی لومړی د ولسمشر مرستيال او بيا د ولسمشرۍ سرپرست(واکيال) شو) د دغه هېواد ولسمشر شو. د اعدام سزا په رسمي ډول، په ۲۰۰۸ ز کال کې په دغه هېواد کې منع شوه.،، (۳۴)



ترکمنستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ترکمنستان د يوې برخې انځور



ترکمنستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ترکمنستان د يوې برخې انځور



ترکمنستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۲. قرغزستان:

,, **قرغېزستان**، په رسمي ډول قرغز جمهوريت، په مرکزي آسيا کې غرنۍ او په وچه کې رااېسارهېواد دی. شمال لوري ته يې قزاقستان، لوېديځ لوري ته ازبکستان، سويل ته يې تاجکستان او ختيځ ته يې چين موقعيت لري. بېشکېک يې پلازمېنه او لوی ښار دی.

د قرغز قوم، د دغه هېواد د شپږ ميليونه وګړو ډېره برخه جوړوي، چې ازبک او روسي مهم لږه کي هم لري. قرغېزي ژبه يې نورو ترکي ژبو ته ډېره نږدې ده، په داسې حال کې چې روسي ژبه تر اوسه په دغه هېواد کې دود ده او يوه له رسمي ژبو نه يې هم ده. د قرغېزستان ۹۰ سلنه وګړي مسلمانان دي، چې لويه برخه يې سني مسلمانان جوړوي. قرغېز کلتور له دې سره چې ترکي رېښه لري، خو د ايراني، مغولي او روسي عناصرو اغېز هم په کې شته دی .

د قرغېزستان تاريخ ګڼ شمېر کلتورونه او ستروا کۍ په ځان کې رانغاړي. په داسې حال کې چې له جغرافيايي پلوه دغه هېواد د ګڼ شمېر غرونو لرلو له امله ګوښه شوی، خو د وربېښمو لارې او نورو سوداګريزو لارو د يوې برخې په توګه د څو لويو تمدنونو په وصل کېدونې ځای کې پروت دی. ترکي کوچيان چې په ګڼ شمېر ترکي دولتونو، لکه: لومړی او دويم ترکي خانقاتو کې يې رېښه لرله، د تاريخ له اوږدو په دغه هېواد کې مېشت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلواکۍ وروسته، قرغېزستان په رسمي ډول واحد ولسمشريز جمهوريت و، چې وروسته له ۲۰۱۰ ز کال نه تر ۲۰۲۱ ز کال پورې په واحد پارلماني جمهوريت واوښت، په داسې حال کې چې په تدريج سره ولسمشر بشپړ اجرائيوي واک ترلاسه کړ، وړاندې له دې چې په ۲۰۲۱ ز کال کې د دغه هېواد نظام بشپړ رياستي نظام ته واوړي، د نيمه ولسمشريز يا نيمه رياستي جمهوريت په توګه اداره کېده. دغه هېواد د خپل موجوديت په اوږدو کې قومي شخړې، انقلابونه، اقتصادي ستونزې، انتقالي دولتونه او سياسي ناندرې ګاللې دي .

قرغېزستان، د مشترک المنافع خپلواکو هېوادونو، ايروآسيا اقتصادي ټولنې، ټوليز امنيت تړون سازمان، د شانګهای د همکاريو سازمان، اسلامي همکاريو سازمان، ترکي دولتونو سازمان يا ترک شورا، د ترکي کلتور د نړيوال سازمان او ملګرو ملتونو سازمان غړيتوب لري. دغه هېواد يو له مخ پر ودې هېوادونو نه دی چې د انساني ودې د شاخص له مخې نوملړ کې ۱۲۰ ځای لري او په مرکزي آسيا کې دويم فقير هېواد دی. د دغه هېواد انتقالي اقتصاد، په کلکه سره د طلا، ډبرو سکرو او يورانيمو په زېرمو تکيه لري. ،، (۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library





قرغزستان د يوې برخې انځور



قرغزستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





قرغزستان د یوې برخې انځور


قرغزستان د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





قرغزستان د يوې برخې انځور



قرغزستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۳. قزاقستان:

,, **قزاقستان** چې په رسمي توګه **د قزاقستان جمهوريت** په نوم ياديږي په منځنۍ آسيا کې پروت يو هېواد دی. قزاقستان ۱۶٬۰۰۰٬۰۰۰ ميليونه وګړي لري او رسمي ژبې يې روسي او قزاقي ژبه دي د پيسو واحد يې تنګه ده. ياد هېواد د نړۍ ترټولو لوی هېواد دی چې آزاد سمندر ته لار نه لري او د وګړو ويش په کې هم ډير کم دی ۷۰ سلنه وګړي يې مسلمان دي .نورسلطان ددی هېواد يخه او باد خيزه پلازمينه ده. په ژمی کې د نورسلطان ښار هوا منفی ۴۰ درجو ته راټيټيږي. د ياد هېواد په شمال کې ميشتو روسي ژبو غوښتل چې د قزاقستان شمال د روسی فدراسيون سره يوځای شي په همدی دليل د ياد هېواد ولسمشر و غوښتل پلازمينه شمال ته انتقال کړي چې ورسره په شمال کې قزاقيان ځای پرځای او سيمه د حکومت کنترول لاندی راشی. د قزاقستان هېواد ولسمشر قاسم جومارت توکايف او لومړی وزير يې بکيت جان ساګينتايف دی.،، (۳۶)



قزاقستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





قزاقستان د يوې برخې انځور



قزاقستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۴. مالديو:**

,, په رسمي ډول د مالديف جمهوريت، د هند په نيمه وچه او د آسيا په نيمه وچه کې يو لرغونی هېواد دی. چې د هند په بحر کې موقعيت لري. مالديف د سريلانکا او هند سويل لويديځ کې پروت دی، د آسيا د لويې وچې څخه شاوخوا ۷۵۰ کيلومتره (۴۷۰ ميل؛ ۴۰۰ سمندري ميل) کې موقعيت لري. د ۲۶ ټاپوګانو سلسله يي چې د ايهون دحيپپولحو جزيره شمال پورې او د اډو جزيره سويل (د استوا په اوږدو کې) پورې غځيږي.

د سمندر په شمول شاوخوا ۹۰۰۰۰ مربع کيلومتره (۳۵۰۰۰ مربع ميل) مساحت لري، د ټولو ټاپوګانو ځمکنۍ مساحت ۲۹۸ مربع کيلومتره (۱۱۵ مربع ميل) دی. مالديف د نړۍ يو له جغرافيايي پلوه ويشل شوی او ترټولو کوچنی خپلواک هېواد دی. همدا راز يو له کوچنيو مسلمان اکثريت لرونکې هېوادونو څخه دی او د شاوخوا ۵۵۷۷۵۱ اوسيدونکو په لرلو سره په آسيا کې دويم لږ نفوس لرونکی هېواد دی. ميل يي پلازمينه او ترټولو نفوس لرونکی ښار دی. چې په دوديز ډول د "پاچا ټاپو" په نوم يادېږي، چيرې چې پخوانيو شاهي سلطنتونو د مرکزي موقعيت لپاره واکمني کوله .

د مالديو ټاپو وزمه په چاګوس لاکاديف ريج کې موقعيت لري، د هند په سمندر کې يوه پراخه د سمندر لاندې غرنۍ لړۍ ده؛ د مالدف ټاپووزمه د چاګوس آرکيپيلاګو او لکشادويپ سره يوځای يو ځمکنۍ اکوريزون هم جوړوي. د ځمکې د سطحې په اوسط ډول او د سمندر له سطحې څخه د ۱،۵ مترو (۴ فټ ۱۱ انچ) لوړوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره، همدارنګه يوازې ۲،۴ متره لوړې طبيعي نقطې په لرلو سره دا د نړۍ ترټولو ټيټ هېواد دی .

اسلام په دولسمه پېړۍ کې د مالديف ټاپوګانو ته ورسيده، چې د سلطنت په توګه پياوړی شو، د آسيا او افريقا سره يي پياوړې سوداګريزې او کلتوري اړيکې رامنځ ته کړې. د شپاړسمې پېړۍ له نيمايي څخه، دا سيمه د اروپايي استعماري قدرتونو د نفوذ لاندې راغله، مالديف په ۱۸۸۷ ز کال کې د بريتانيا ترسرپرستۍ لاندې راغی. په راتلونکو لسيزو کې سياسي بې ثباتي، د ديموکراتيکو اصلا حاتو هڅې او د اقليم د بدلون له امله د چاپيريال ننګونې ليدل شوې دي .

مالديف د سويلي آسيا د سيمه ييزو همکاريو ټولنې (سارک) بنسټ اېښودونکی غړی شو. تر څنګ يي د ملګرو ملتونو، د ملګرو ملتونو د مشترک المنافع، د اسلامي همکارۍ ټولنې او د ناپيیلو غورځنګ غړيتوب هم لري. نړيوال بانک مالديف د لوړ منځني عايد لرونکي اقتصاد په توګه طبقه بندي کوي. په مالديف کې د اقتصادي فعاليتونو پياوړتيا په کب نيونې ولاړه ده او تر دې دمه ترټولو لوی سکټور پاتې شوی دی. ورپسې ګرځندوی صنعت ګړندی وده کوي. مالديف د بشري پرمختيا په برخه کې "لوړ" دی، د مالديف سرانه عايد د نورو سارک هېوادونو په پرتله ډير لوړ دی .

مالديف د ۱۹۸۲ ز کال د جولای څخه د ملګرو ملتونو د مشترک المنافع غړی و، خو د ۲۰۱۶ ز کال په اکتوبر کې له دې سازمان څخه د نورو هېوادونو له خوا د بشري حقونو څخه د سرغړونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډيموکراسۍ د ناکامۍ په اړه د تورونو په اعتراض کې وايستل شو. مالديف د ۲۰۲۰ ز کال د فبرورۍ په لومړۍ نيټه د ديموکراتيکو پروسو د فعاليت او د خلکو د ملاتړ له ښودلو وروسته له مشترک المنافع هيوادونو سره يوځاى شو. ،، (۳۷)



مالديف د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مالديف د يوې برخې انځور



مالديف د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مالديف د يوې برخې انځور



مالديف د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سويل ختيځه آسيا

### ۳۵. اندونيزيا (اندونيزي)

,, په رسمي ډول د اندونېزيا جمهوريت  په سويل ختيځ آسيا او اوقيانوسيه کې د هند او ارام سمندرونو ترمنځ پروت هېواد دی. نوموړی هېواد د سوماترا، جاوا، سولاويسی، او د بورنيو او نوي ګيني د ځينو برخو په شمول له ۱۷,۰۰۰ نه زياتو ټاپوګانو څخه جوړ شوی دی. اندونېزيا د نړۍ ترټولو لوی ټاپويیز هېواد دی او د پراخوالي له پلوه د ۱,۹۰٤,۵٦۹ کيلومتره مربع (۷۳۵,۳۵۸ ميل مربع) مساحت په درلودلو سره ۱٤م لوی هېواد دی. له شاوخوا ۲۷۰ مليونه نفوس سره، اندونېزيا د نړۍ څلورم ډېر نفوس لرونکی هېواد او ترټولو ډېر نفوس لرونکی مسلمان هېواد دی. جاوا، د نړۍ ترټولو نفوس لرونکی ټاپو، د دې هېواد د نيمايي څخه د ډېر نفوس کور دی. اندونېزيا يو ولسمشريز جمهوريت دی چې ټاکل کېدونکي مقننه قوه لري. دا هېواد ۳۴ ولايتونه لري چې پنځه يې ځانګړی حيثيت لري. د هېواد پلازمينه جاکارتا د نړۍ دوهمه ډېر نفوس لرونکي ښاري سيمه ده. اندونېزيا د پاپوا نيو ګيني، ختيځ تيمور، او د ماليزيا ختيځې برخي سره ځمکنۍ پولې شريکوي، په داسې حال کې چې له سنګاپور، ويتنام، تايلېند، فيليپين، آسټراليا، پالاو او هند (اندامان او نيکوبار ټاپوګانو) سره سمندري پولې لري. اندونېزيا د خپل زيات نفوس او ګڼ نفوسه سيمو سره سره، نامېشتي پراخي سيمې لري چې په نړۍ کې د ژوو د تنوع د ترټولوړو کچو ملاتړ کوي.
د اندونېزيا ټاپوګان لږترلږه د اوومې پېړۍ راهيسې د سوداګرۍ لپاره ارزښتناکه سيمه وه کله چې سريويجايا او وروسته ماجاپاهيت د چين

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هند د نيمې قارې له شرکتونو سره تجارت کاوه. محلي واکمنانو په تدريجي ډول د لومړيو پيړيو څخه بهرني نفوذ جذب کړ، او هندو او بودايي سلطنتونو وده وکړه. سني سوداګرو او صوفي عالمانو اسلام راوړ، په داسې حال کې چې عيسويت تر ډېره د اروپايانو له لارې راوړل شو. که څه هم کله ناکله د پرتګاليانو او فرانسويانو او انګليسانو لخوا مداخله شوې، اما هالنډ په نومړي مجمع الجزاير کې په خپل ۳۵۰ کلن شتون سره ترټولو لوی استعماري ځواک ؤ. د يو ملي دولت په توګه د "اندونېزيا" مفهوم د شلمې پېړۍ په لومړيو کې راښکاره شو، چې وروسته يې پايله په ۱۹۴۵ ز کې د اندونېزيا د خپلواکۍ اعلان ؤ . په هر حال، دا هېواد د هالنډ له خوا تر هغه په رسميت ونه پېژندل شو تر څو چې د دواړو هېوادونو تر منځ وسله والې او ډيپلوماتيکې شخړې ونښتې او وروسته په ۱۹۴۹ ز کال کې په رسميت وپېژندل شو.

اندونېزيا په سلهاوو جلا نژادي او ژبني ګروپونه لري، چې جاوياني يې تر ټولو لوی دي. يو ګډ هويت يې د "بهنيکا تونګال اکا" شعار سره رامنځته شوی ("په تنوع کې يووالی" په لفظي ډول، "زيات شمېر، لاهم يو") ، د ملي ژبې ، توکميزې تنوع ، د اکثريت مسلمان نفوس سره مذهبي کثرت او د استعمار او د هغه پر وړاندې د بغاوت/مقاومت له لارې تعريف شوی دی.،، (۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library






اندونیزیا د یوې برخې انځور




اندونیزیا د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





اندونیزیا د یوې برخې انځور



اندونیزیا د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





اندونیزیا د یوې برخې انځور



اندونیزیا د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۶. بروڼئی:**

,, بروني دارالسلام، جاوي: نګارا بروني دارالسلام، د بروني ملت، د سولې کور» يو هېواد دی چې د سويل ختيځې اسيا د بورنيو ټاپو په شمالي ساحل کې پروت دی. د سويلي چين له سمندري سواحلو پرته، دا په بشپړ ډول د ماليزيا د سراواک ايالت له خوا را ايسار شوی دی. بروني د ليمبانګ د سراواک سيمې له امله په دوو برخو وېشل شوی. بروني په بورنيو کې يوازينی خپلواک دولت دی؛ د ټاپو پاتې برخه د ماليزيا او اندونيزيا ترمنځ وېشل شوې ده. تر ۲۰۲۰ز کال پورې يې نفوس ٤٦۰,۳٤٥ و، چې شاوخوا ۱۰۰,۰۰۰ تنو يې په پلازمېنه او لوی ښار، يعني په بندر سری بيګاوان کې ژوند کوي. حکومت يې يوه مطلقه پاچاهي ده، چې د خپل سلطان له خوا اداره کېږي، د يانګ دی پرتوان حق لري او د انګليسي عام قانون او شرعي قوانينو او همدارنګه د عمومي اسلامي طرزالعملونو ترکيب پلي کوي.

د دغه هېواد ډېره شتمني پر پراخو پټروليمو او طبيعي ګازو راڅرخي. بروني د سويل ختيځې اسيا هېوادونو په مينځ کې تر سينګاپور وروسته دويم لوړ بشري پرمختيايي شاخص لري او د پرمختللي هېواد په توګه ګڼل کېږي. د پيسو نړيوال صندوق په وينا، بروني په نړۍ کې د سړي سر ناخالص کورني توليد له مخې د پېرودلو د ځواک په برابرۍ کې پينځم ځای لري.،، (۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library





برونئی د يوې برخې انځور



برونئی د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





برونئی د يوې برخې انځور



برونئی د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۷. مالیزیا (مالیزي)**

,, په سویل ختیځ آسیا کې یو هېواد دی او پلازمینه یې کوالالمپور دی. د هېواد دولتي اداري او وزارتونه د (اداري پلازمینه) په نوي ښار کې موقعیت لري. مالیزیا د ملګرو ملتونو او د کامن ویلت د خپلواکو هېوادونو غړی دی. په دې فدراسیون کې د سویل ختیځې اسیا دیارلس ایالتونه شامل دي. د "مالیزیا" نوم هغه وخت غوره شو کله چې د مالیزیا فدراسیون؛ سنګاپور، صباح او سراواک د ۱٤ ایالتونو اتحادیه جوړه کړه. په ۱۹٦٥ کې، سنګاپور له مالیزیا څخه جلا شو او یو خپلواک هېواد شو. مالیزیا دوه جغرافیایي سیمې لري، او د سویلي چین بحیره دوی سره جلا کوي: جزیره مالیزیا یا لویدیځ مالیزیا، چې د مالیزیا په ټاپوزول کې موقعیت لري او له شمال څخه د تایلینډ سره ځمکنی پوله لري، او د جوهر ایکسپریس ویز له لارې له سویل څخه سنګاپور سره وصل دی. .. په دې هېواد کې د جوهر، کیده، پاهنګ، نیګیري سمبیلان، کیلانتان، پیراک، سیلانګور، پرلیس او تیرینګانو سلطنتونه شامل دي او د دې دوه ایالتونه د ملاکا او پینانګ والیان او د پوتراجایا او کوالالمپور دوه فدرالي سیمې دي. مالیزیا بورنیو یا ختیځ مالیزیا، چې د بورنیو ټاپو شمالي برخه پوښي، د اندونیزیا او بروناې سلطنت سره پوله لري. په ختیځ مالیزیا کې د سبا او سراواک ایالتونه او د لابوان فدرالي سیمه شامله ده. که څه هم له سیاسي نظره، مالیزیا تر ډېره د مالیزیا مشري کوي؛ خو د چینایي او هندي لړکیو له شتون سره سره د مالیزیا نوی نفوس هم یو شان نه دی. یوازینی مهم تاوتریخوالی چې په دې هېواد کې لیدل کیږي؛ د خپلواکۍ له وخت څخه تر اوسه پورې، د می د ۱۳ نیټې نژادي پاځون د ټاکنیز کمپاین او نژادي شخړو په درشل کې دی. په هرصورت، مالیزیا د نژادي همغږۍ یوه بیلګه ګڼل کیږي.،، (۴۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library





مالیزیا د یوې برخې انځور


مالیزیا د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ماليزيا د يوې برخې انځور



ماليزيا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ماليزيا د يوې برخې انځور



ماليزيا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ماليزيا د يوې برخې انځور



ماليزيا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ماليزيا د يوې برخې انځور



ماليزيا د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قفقاز کې

### ۳۸. آذربايجان:

,, د **آذربايجان** جمهوريت په قفقاز غرو لړۍ کې يو هېواد دی چې د اروپا او سوېل لوېديځه اسيا په منځلاره کې پروت دی. دا هېواد کسپين سمندرګی سره ساحل لري.

دا هېواد په سوېل کې له روسيې سره، د جيورجيا سره په سوېل لويديځه لورې، د ارمنستان سره په لويديځه خوا او په سوېل کې د ايران سره خپلې پولې لري. د نخجوان خپلواکه جمهوريت چې د اذربايجان ادعا وربانديې ده، سوېل ختيځه کې د ارمنستان سره، په سوېل لويديځه کې د ايران سره او په سوېل لوېديځه کې د ترکيې سره ګډې پولې لري. اذربايجان يو غېر مذهبي حکومت لري، او د ۲۰۰۱ زېږيز کال راپدې خوا د اروپايي قونسل غړيتوب لري. ددې هېواد ډېرکي وګړي شيعه مسلمانان دي او د غربي ترکي توکمه خلګ دي چې د اذربايجاني په نوم او يا هم په ساده ډول د اذري په نوم يادېږېي. دا هېواد په رسمي توګه مخ په ډيموکراسی روان دی، خو په کلکه توګه اقتدار پلوی قانون پلي کوي.،، (۴۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library





آذربایجان د یوې برخې انځور



آذربایجان د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





آذربايجان د يوې برخې انځور



آذربايجان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۹. داغستان**

,, د روسيې د ۸۵ فدرالي واحدونو څخه يو دی. دا فدرالي واحد د جمهوريت په توګه اداره کيږي. دا فدرالي واحد د کسپين سمندر په لوېديځو څنډو او د قفقاز په ختيځه برخه کې موقعيت لري. د دې مرکز او لوی ښار ماخچکلا نوميږي چې د کسپين سمندر په څنډو کې جوړ شوی دی. له مخچکلا ښار وروسته د داربند ښار د دغه جمهوريت تر ټولو مهم ښار ګڼل کيږي. داغستان شاوخوا ۲/۹ ميليونه وګړي لري. د داغستان د خلکو پلرونه د قفقاز د بيلابيلو توکمونو څخه دي، په دې خاوره کې د ډيری بيلابيلو توکمونو د شتون له امله، د روسيې سربيره، له ۳۰ څخه زياتو سيمه ايزو ژبو لکه آذربايجاني ترکي، د تاتي ژبه. قفقاز او اوار هم ويل کيږي. د داغستان نوم د ترکيې له کلمې "داغ" څخه اخيستل شوی چې معنی يې "غره" او د پارسي مخفف "ستان" چې معنی يې "غره" ده.

د داغستان په سويلي برخه کې د قفقاز د غرونو سلسله او په شمالي برخه کې د کسپين ميدان شتون لري. د ترکيې او سلک سيندونه د دغه جمهوريت له مرکزي برخې تيريږي. دوه مهم سيندونه چې په غرونو کې بهيږي په شمال کې سلک او په سويل کې سمور دي. د سنګاويو او انديسکي غرونو سلسلې د داغستان طبيعي پولې جوړوي.

د ژبو له نظره داغستان په نړۍ کې يوه بې ساري سيمه ده چې درې ژبني ګروپونه لري، لکه قفقاز، التايک او هند-اروپايي. د داغستان معياري ژبه روسي ده چې په رسمي توګه کارول کيږي. د يادولو وړ ده چې د دغو توکمونو څخه هر يو معمولا په خپله مورنۍ ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځپاڼې او حتی په خپله ژبه تلويزيوني خپروني لري. د دې ټولو ژبو الفبا، چې شاوخوا ۵۰ ژبې دي، سيريليک دی.

په دې موده کې د داغستان ځيني برخې د خپل نفوس او کلتور د ايراني کولو بهير تجربه کړ. د عربو له خوا د ايران تر فتحې وروسته عربانو هم ورته کړنلاره تعقيب کړه. ډېر عربان داربند ته ننوتل او په داغستان کې يې اسلام خپور کړ. داغستان يوه له هغو سيمو څخه وه چې د ګلستان د تړون له لاسليکولو وروسته له ايران څخه جلا شوه. په داغستان کې د وروستيو تاوتريخوالو ډيری برخه د "جماعت شريعت" په نامه د اسلامي جهادي ډلې له خوا ترسره شوې چې غواړي په داغستان کې اسلامي امارت رامنځته کړي. دا د دوی او سيلفي ګروپونو ترمينځ د تاو تريخوالي لامل کيږي.،، (۴۲)



داغستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۰. چچنستان (چچن):**

,, چيچنيا يا چيچنيا د روسيې يو له خپلواکو جمهوريتونو څخه دی. د ۲۰۰۲ په سرشميرنه کې د دې جمهوريت نفوس ۱,۱۰۳,٦٨٦ و، او پلازمينه او لوی ښار يې ګروزني دی.

د روسيې په نقشه کې د چيچنيا جمهوريت.
په پخوانيو وختونو کې، د ققفاز د غرونو شمالي غرونه په لويديځ کې د سرکاسيان قومونو او په ختيځ کې د اوار قومونو کور وو. د دغو دوو سيمو په منځ کې، زيګس د سيمه ونيوله، چې تقريبا د اوسيتيا، بالکار، انګوشتيا او د چيچنيا جمهوريت شمال ته پرته سيمه ده. چيچنيا په شمالي ققفاز کې هغه سيمه ده چې د تاريخ په اوږدو کې په پرله پسې ډول له بهرنيو هېوادونو سره جنګيږي. دا جګړې په لومړي ځل په پنځلسمه پېړۍ کې له عثماني ترکانو سره پيل شوې. په پای کې، چيچنيا اسلام ته بدل شو او د ترکانو سره تاوتريخوالی کم شو. په هرصورت، د عيسوي ګاونډيانو لکه جورجيا او کاساک سره، او همدارنګه د کالميک بودايانو سره شخړې زياتې شوې. په ۱۵۷۷ کې، د روسيې تريک کوساک قول اردو د آزاد لخوا جوړه شوه چې د وولګا په سيمه کې د تيريک سيند په لور، د چيچنيا په ټيټو سيمو کې ژوند کوي. په ۱۷۸۳ کې، روسيې او د کارټيل-کاختي د ګرجستان سلطنت (د ترکانو د يرغل له امله کمزوری شوی) د جورجييفسک تړون لاسليک کړ، چې له مخې يې کارټيل-کاختي د روسيې تر ساتنې لاندې راغی. ،، (۴۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library





چچنستان د يوې برخې انځور



چچنستان د يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اروپا کې

**۴۱. البانيا (الباني):**

,, د بالکان په ټاپو وزمه کې يو هېواد دی چې د اروپا په سويل ختيځ کې موقعيت لري. دا هېواد له شمال څخه مونټينيګرو او سربيا او په ختيځ کې له شمالي مقدونيې او يونان سره ګډه پوله لري. البانيا د مديترانې په سيمه کې يو له هغو هېوادونو څخه دی چې د يونان د بحيرې په شمال کې او د ايجين سمندر په لويديځ کې موقعيت لري. البانيا د ۲۸۷۴۸ کيلومتره مربع مساحت په لرلو سره د نړۍ ۱۴۴م لوی هېواد دی البانيا د ۲۸۷۷۷۹۷ نفوس په لرلو سره د نړۍ ۱۳۶م ګڼ نفوسه هېواد دی پلازمينه او لوی ښار دی. د دې هېواد ترانه نومېږي، چې نفوس يې ۳۷۴،۸۰۱ تنه دی. د البانيا خلک د اليرين خلکو څخه دي، يو هند-اروپايي خلک دي. البانيا، چې د لرغوني اليريا تمدن وارث دی، د پېړيو پېړيو په اوږدو کې د بيلابيلو واکمنانو تر واکمنۍ وروسته، د پام وړ اقتصادي، ټولنيز او کلتوري پرمختګونه کړي دي. اقتصاد يې ازاد بازار ته د انتقال په حال کې دی. د آزاد بازار اصالحاتو د هېواد اقتصاد بهرنۍ پانګونې ته پرانيستی دی، په ځانګړې توګه د انرژۍ او ترانسپورټ زيربناوو په برخو کې. د البانيا اقتصاد زياتره کرنه او د کروم صادرات دي. د دې هېواد شاوخوا دريمه برخه ځنګلونه دي او البانيا د نباتاتو ډولونو کې بډايه هېواد دی. د دغه هېواد يو له مهمو اقتصادي محصولاتو څخه غنم دي، چې صادراتي سکتور ته داخل شوی او البانيا د کرنيزو محصولاتو په ځانګړې توګه د غنمو د توليد له پلوه پر ځان بسيا شوی دی. په دغه هېواد کې د کروماېټ توليد هم ليدل کېږي او البانيا په نړۍ کې لوړ مقام لري.،، (۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library





البانیا د هېواد د ودانیو یوې ښندې انځور



البانیا د هېواد د ودانیو یوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





البانیا د هېواد د ودانیو یوې ښندې انځور



البانیا د هېواد د ودانیو یوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





البانيا د هېواد د ودانيو يوې څنډې انځور



البانيا د هېواد د ودانيو يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴۲. بوسنيا او هرزګونيا (هرزګوني):

,, ځينې وختونه بوسنيا-هيرزيګوينا هم بلل کېږي او زياتره په غير رسمي ډول بوسنيا بلل کېږي د سوېلي او ختيځې اروپا په ځلورلاره کې يو هېواد دی چې په بالکان کې موقعيت لري. پلازمينه او لوی ښار يې سراييوو دی. بوسنيا او هرزيګوينا په ختيځ کې له سربيا، په سوېل ختيځ کې له مونتينيګرو او په شمال او سوېل لوېديځ کې له کرواسي سره پوله لري. دا هېواد په سويل کې د مديترانې په اوږدو د درياتيک سمندرګي سره تنګ ساحل لري چې نږدې ۲۰ کيلومتره (۱۲ مايله) اوږدوالی لري او د نيوم ښار يې چاپير کړی دی. بوسنيا، چې د دې هېواد دننه سيمه ده، معتدل براعظمي اقليم لري چې ګرم اوړی او سوړ او واورين ژمی لري. جغرافيه يې په مرکزي او ختيځو سيمو کې غرنۍ ده، په شمال لوېديځ کې نسبتاً غونډۍ لري او په شمال ختيځ کې په پراخه کچه غونډۍ دي. هرزيګوينا چې د دې هېواد کوچنۍ سويلي سيمه ده، مديترانه يې اقليم لري او زياتره غرنۍ سيمه ده .

دا سيمه چې اوس د بوسنيا او هرزيګوينا بلل کېږي لږترلږه د دريمې ډبريزې دورې راهيسې د انسانانو تر استوګنې لاندې ده، خو شواهد ښيي چې د نوې ډبريزې دورې په اوږدو کې، دايمي انساني استوګنځايونه، لکه هغه ځايونه چې د بټمير، کاکنج، او ووکيډول له دودونو سره تړاو لري، رامنځ ته شوي دي. د هندي – اروپايانو له لومړي راتګ وروسته، دا سيمه د ځو اليريايي او سيلټي تمدنونو تر استوګنې لاندې وه. له فرهنګي، سياسي او ټولنيز اړخه، دا هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بډایه او پیچلي تاریخ لري. د سویلي سلاوي وګړو نیکونه چې نن ورځ په سیمه کې نفوس لري، له ۶ مې تر ۹ مې پېړۍ پورې دې سیمې ته راغلل. په ۱۲مه پېړۍ کې، د بوسنیا بانت دولت را منځ ته شو؛ په ۱۴مه پېړۍ کې، دا دولت د بوسنیا سلطنت ته پراخ شو. د ۱۵مې پېړۍ په نیمايي کې د عثماني ستر واکۍ تر واک لاندې شو چې تر ۱۹مې پېړۍ تر وروستیو پورې د هغې تر واک لاندې پاتې شو. عثمانیانو نوموړې سیمې ته اسلام راوړ او د دې هېواد زیاتره کلتوري او ټولنیز لید یې بدل کړ.

د نولسمې پېړۍ له پای څخه تر لومړۍ نړیوالې جګړې پورې، دا هېواد د اتریش - هنګري پاچاهۍ ضمیمه شو. د جګړې په اوږدو کې د یوګوسلاویا د سلطنت برخه وه. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته، د یوګوسلاویا په نوي جوړ شوي سوسیالیستي فدرالي جمهوریت کې د بشپړ جمهوریت حیثیت ورکړل شو. په ۱۹۹۲ کال کې، د یوګوسلاویا له جلا کېدو وروسته یې خپلواکي اعلان کړه. وروسته د بوسنیا جګړه را منځ ته شوه چې د ۱۹۹۵ کال تر وروستیو پورې یې دوام وکړ او د ډیټون د تړون له لاسلیک سره سم پای ته ورسېده.

نوموړی هېواد نن ورځ د درېو اصلي توکمیزو ډلو ټاټوبی دی، چې د دې هېواد په اساسي قانون کې د "اصلي وګړو یا ټاکونکو وګړو" په نوم یادېږي. بوسنیایان د دې درېو لویه ډله ده، سربیان دوهمه لویه ډله او کروات دریم ځای لري. په انګلیسي ژبه کې، د بوسنیا او هرزیګوینا ټول اصلي اوسېدونکي، پرته له دې چې توکم یې په پام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ونيول شي، بوسنيان بلل کيږي. اقليتونه، چې د اساسي قانون پر بنسټ د "نورو" په توګه ډلبندي شوي، يهوديان، رومانياييان، البانيان، مونټينيګرويان، اوکراينيان او ترکان په کې ګډون لري .

بوسنيا او هرزيګوينا دوه مجلسه مقننه سيستم او درې-غړی ولسمشريزه سيستم لري چې د دريو لويو توکمونو له غړي څخه را منځ ته شوی دی. خو د مرکزي حکومت واک خورا محدود دی، ځکه چې دا هېواد په لويه کچه غير متمرکز نظام دی. دا هېواد دوه خپلواکه اداري لري - د بوسنيا او هرزيګوينا فدراسيون او بل د بوسنيا د صربانو جمهوريت دی - او دريم واحد، د برچکو سيمه ده چې د خپل سيمه ايز حکومت له لوري اداره کيږي. د دې تر څنګ، بوسنيا او هرزيګوينا فدراسيون لس کانتونونه (اداري تقسيمات) لري.

بوسنيا او هرزيګوينا د پرمختګ په لور هېواد دی او د بشري پراختيا په شاخص کې ۷۳م ځای لري. اقتصاد يې په صنعت او کرنه ولاړ دی، ورپسې ګرځندوی او د خدماتو سکتور راځي. په وروستيو کلونو کې يې ګرځندوی د پام وړ وده کړې ده. دا هېواد د ټولنيز خونديتوب او د روغتيايي پاملرنې عمومي سيستم لري، ابتدايه او ثانوي زده کړې په کې وړيا دي. دا هېواد د ملګرو ملتونو، د اروپا د امنيت او همکارۍ د سازمان، د اروپا شورا، د سولې لپاره د مشارکت، او د مرکزي اروپا د ازادې سوداګرۍ د تړون غړيتوب لري. ،، (۴۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library





بوسنيا او هرزګونيا د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور



بوسنيا او هرزګونيا د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴۳. د کريميا ټاپو وزمه:

,, دا هېواد د تور سمندرګي د شمالي سيندغاړې په دوام پروت دی. د وګړو شمېر او نفوس يې ۲/۴ ميليونه دی. نږدې ټوله ټاپووزمه په بشپړ ډول د تورې بحيرې او د ازوف د کوچني سيند په واسطه ايساره شوې ده، دا د اوکراين د خرسون ولايت په سويل کې پرته سيمه ده، چې د پېريکوپ د تنګي په واسطه ورسره نښلول شوې او د روسيې په لوېديځ کې د کراسنودار په سيمه کې د کرچ تنګي په واسطه ورڅخه بېله شوې، که څه هم له ۲۰۱۸ ز کال ر اهيسې د کريميې د پل په واسطه له يو بل سره نښلول شوي دي. شمال ختيځ ته يې د عربات سپايت، د ځمکې نرۍ تړانګه پرته ده چې د سېوش په نوم د ګرداوونو سيستم له ازوف سيند څخه بېلوي. د تور سمندرګي په اوږدو کې د لوېديځ لورته رومانيا او د سويل لور ته ترکيه پرته ده .

کريميه (يا د توريک ټاپووزمه، چې له لرغوني دورې څخه د مډرنې دورې تر لومړيو پورې په دې نوم يادېده) له تاريخي پلوه د کلاسيکې نړۍ او کسپين پوتونيک - ستيپي تر منځ کربنه کې ځای لري. سويلي څنډه يې د يونانيانو له خوا مستعمره شوه او وروسته د ايرانيانو ورپسې د روم ستروا‌کي، بېزانس ستروا‌کي او په پای کې د ځايناستو واکمنيو، لکه: د ترابيزون او شهزاده تيوډورو د ستروا‌کيو له خوا اداره کېده. د دغې ټولې دورې په بهير کې ښاري سيمې، يوناني ژبې او په پای کې ختيځې عيسوي (ختيځ ارتودوکس) وې. د بيزانس واکمنۍ د سقوط په بهير کې يي ځينې سيمې د هغه د داين (د جينوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوريت) لاس ته ورغلې، تر هغه چې ټول د چټکې ودې په حال کې عثماني سترواکي جذب کړل. په دغه ټوله موده کې داخلي فضا د داخلي اشغالګرو کوچيانو او بدلون په حال کې تيت او پرک بېديايي امپراتوريو، لکه: سميريانو، سکوثيانو، سرماتيانو، د کريميې ګوتيانو، الانيانو، بلغاريايانو، هونيانو، خزريانو، کېپچکانو، مغوليانو او طلايي هورډيانو له خوا اشغال شوه. له ۱۵ څخه تر ۱۸ پېړۍ پورې کريميه او د هغې شاوخوا خاورې د عثماني سترواکي اړوند د کريميې په خانات کې متحدې شوې او تر ډېره يې د غلامانو په لټه د روسيې پر سويل بريد وکړ .

کريميه په ۱۷۸۳ ز کال کې د روسيې او ترکيې د جګړې (۱۷۶۸-۱۷۷۴ز کلونه) له امله د روسيې د ستروکۍ ضميمه شوه. په ۱۹۱۷ ز کال کې د روسيې تر انقلاب وروسته، کريميه د شوروي اتحاد د ننه په يو خپلواک جمهوريت بدله شوه .

کريميه د دويمې نړيوالې جګړې په بهير کې د کريمي ولايت ته را ولوېده او ټول لرغوني کريمايي اوسېدونکي او د کريميې تاتاريان منځنۍ اسيا ته تبعيد(وشړل) شول، دا ګام د اوکراين او درېيو نورو هېوداونو له خوا په رسمي ډول د نسل وژنې په نوم وپېژندل شو. ۱۹۵۴ ز کال د پرياسلاو تړون (رسمي غونډه چې د روسيې د قزاقانو د وفادارۍ د ژمنې لپاره د مرکزي اوکراين په پرياسلاو ښار کې ترسره شوه) د ۳۰۰يمې کليزې سره برابر و، چې په ۱۶۵۴ ز کال کې د اوکراين د قزاق هتمانات اود روسيې د تزار الکسيس له خوا لاسليک شوی و. په ۱۹۹۱ ز کال کې د شوروي اتحاد له ړنګېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره اوکراین د یو خپلواک هېواد په توګه رامنځته شو او د ټاپووزمې ډېره برخه د کریمیې د خپلواک جمهوریت په توګه بیا تنظیم شوه او د سواستوپل ښار په اوکراین کې خپل ځانګړی وضعیت خوندي کړ. په ۱۹۹۷ ز کال کې د تورسمندرګي د جنګي بېړیو د شرایطو په اړه د وېش تړون د پخواني شوروي اتحاد د تور سمندرګي جنګي بېړۍ سره ووېشلې او روسیې ته یې اجازه ورکړه چې په کریمیه کې د خپلو جنګي بېړیو ځای پر ځای کولو ته دوام ورکړي: اټکل کېده چې اوکرایني سمندري ځواکونه او د روسیې جنګي بېړۍ دواړه په سواستوپل کې مېشتې شي. اوکراین په ۲۰۱۰ ز کال کې د طبیعي ګاز د لا تخفیف په بدل کې د خارکوف تړون له مخې د روسیې د سمندري تاسیساتو موده اوږده( تمدید) کړه .

د کریمیا جمهوریت د مارچ په ۱۶ تر یوې جنجالي ټولپوښتنې وروسته چې موضوع یې له روسیې سره د کریمیې بیاځلي یوځای کېدل وو، له اوکراین څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړه، چې اوکراین او ګڼو نورو هېوادونو ناقانونه وبلله، رسمي پایلې له۹۰ سلنه څخه زیاتې د بیاځلي یو ځای کېدو په ملاتړ وې، خو د ډېری اوکرایني پلوه هېوادونو پر رایو بندیز ولګول شو. روسیې د مارچ په ۱۸ په رسمي ډول کریمیه د خپلې خاورې ضمیمه کړه او د سواستوپل فدرال ښار یې د روسیې د فدرال د ۸۴ م او ۸۵ م واحد په توګه ضمیمه کړ.،، (۴۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library





کرېميا د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور



کرېميا د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





کرېميا د هېواد د ودانيو يوې ښندې انځور



کرېميا د هېواد د ودانيو يوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۴. کوزوو:**

,, سوېل ختيځه اروپا کې نيمه په رسميت پېژندل شوی هېواد دی او د بالکان په مرکز کې پروت دی. کوزوو د ۲۰۰۸ کال د فبروري په ۱۷ نېټه په يو اړخيزه توګه له صربستان څخه خپله خپلواکي اعلان کړه او له هغه راهيسې يې د ملګرو ملتونو د ۹۷ غړو هېوادونو له لوري د يو خپلواک هېواد په توګه ډيپلوماتيک رسميت ترلاسه کړی دی. دا هېواد په شمال او ختيځ کې د له صربستان، په سوېل ختيځ کې له شمالي مقدونيې، په سويل لوېديځ کې له البانيا او په لوېديځ کې مونتينيګرو سره ګډه پوله لري. د کوزوو زياتره مرکزي برخه د دوکاګجيني او کوزوو په پراخه هوارو او ميدانونو پوښل شوې ده. د اکورزد غرونه او سار غرونه په ترتيب سره په سوېل لوېديځ او سوېل ختيځ کې پراته دي. پلازمينه او لوی ښار يې پرستينا دی.

په کلاسيکه لرغونه زمانه کې، مرکزي قبيله چې د کوزوو په خاوره کې راڅرګنده شوه دارداني وه او په څلورمه پېړۍ کې يې د داردانيا سلطنت په نوم خپلواک دولت تاسيس کړ. مخکې له ميلاد نه په لومړۍ پېړۍ د روم سترواکۍ ضميمه شوه او د راتلونکې زريزې په اوږدو د بيزانس سترواکۍ برخه پاتې شوه، چې د دې سترواکۍ واکمني د ۶مې او ۷مې پېړيو په اوږدو کې د سلاوي يرغلونو په پايله کې له منځه لاړه. په ورپسې پېړيو کې، د سيمې کنټرول د بيزانسي او د لومړۍ بلغاريايي سترواکۍ ترمنځ بدلېده. کوزوو په ۱۳مه پېړۍ کې د صربستان د منځنيو پېړيو د دولت مرکز شو، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۴مې پېړۍ راهيسې د صربستان د ارتودوکس کليسا مرکز هم و، چې په دې وخت کې يې حيثيت کشيش مېشته سيمې ته لوړ شو.

د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې، کوزوو د البانيا د ولسي خوځښت مرکز و او په کې د ۱۹۱۰ کال البانيايي پاڅون او د ۱۹۱۲ کال البانيايي پاڅون را منځ ته شول. عثمانيانو د بالکان په جګړو کې له ماتې وروسته کوزوو صربستان او مونتينيګرو ته وسپارله. له لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته دواړه هېوادونه له يوګوسلاويا سره يوځای شول، او په دې سلطنت کې د يوګوسلاوي د اتحاد پالنې د دورې په تعقيب، او د دوهمې نړيوالې جګړې وروسته يوګوسلاوي اساسي قانون د صربستان د جمهوريت په يوګوسلاوي برخه کې د کوزوو او ميتوهيجا خپل اختياره ولايتونه تاسيس کړل.

کوزوو يو پرمختللی هېواد دی، د لوړ متوسط عايد اقتصاد سره. دې په تيره لسيزه کې د نړيوالو مالي موسسو له لوري اندازه شوي، او د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ مالي بحران له پيل راهيسې هر کال وده موندلې ده. کوزوو د پيسو د نړيوال صندوق، نړيوال بانک غړی دی او د اروپا په شورا، يونيسکو، انترپول او د اسلامي همکاريو په سازمان کې د څارونکي حيثيت لپاره يې د غړيتوب غوښتنه کړې ده.،، (۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library





کوزوو د هېواد د ودانيو يوې ښندۍ انځور



کوزوو د هېواد د ودانيو يوې ښندۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





کوزوو د هېواد د ودانیو یوې ښندې انځور


کوزوو د هېواد د ودانیو یوې ښندې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په غير عرب افريقا کې

### ۴۵. ارتيره:

,, اريتريا، په رسمي ډول د اريتريا جمهوريت په نوم پيژندل شوی، يو هېواد دی چې په ختيځ افريقا کې موقعيت لري.

اريتريا له شمال او لويديځ څخه سوډان سره ګډه پوله لري ، له سويل څخه ايتوپيا ، له سويل څخه جيبوتي او له ختيځ څخه سره بحر ته رسي ، د اريتريا ساحل له سره بحر سره له ۹۰۰ کيلومترو څخه ډير دی.

د اريتريا نوم د يوناني کلمې څخه اخيستل شوی چې معنی يې "سرخ څمکه" ده. د اريتريا مساحت ۱۱۷,٦۰۰ مربع کيلومتره دی او نفوس يې ۳,٥٤٦,۰۰۰ وګړی دی د دې هېواد رسمي ژبې د تيګرينيا، عربي او انګليسي ژبې دي. تيګرينيا د ساميتيک اصل ژبه ده. ستراتيژيک تنګی د ايريتريا او يمن ترمنځ د اوبو پوله تشکيلوي، د دې هېواد پلازمينه اسمارا ښار دی، چې شاوخوا ٦۸۸,۱۹۸ نفوس لري، د دې هېواد ترټولو نفوس لرونکی ښار او د افريقا ۳۹م لوی ښار دی.،، (۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library





ارتيره د هېواد د ودانيو يوې ښندې انځور



ارتيره د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ارتيره د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور



ارتيره د هېواد د ودانيو يوې ښندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۶. بور کینا فاسو**

,, په لویدیځې افریقا کې په وچې پورې تړلی یو هېواد دی. پلازنینه یې آواګادوګو او مساحت یې ۲۷۴'۰۰۰ کیلومتره مربع دی، د یاد هېواد رسمي ژبه فرانسوي ده او ۱۳'۲۲۸'۲۲۸ میلیونه وګړي لري.د بورکینافاسو د پیسو واحد د یاد هېواد فرانک دی، په ۱۹۶۰ د اګست په ۵ یې له فرانسه نه خپله خپلواکي ترلاسه کړې.

د ۲۷۴۲۰۰ کېلومتر مربع (۱۰۵۹۰۰ میل مربع) پراخوالي په لرلو سره د لویدیځې افریقا په وچه کې را ایسار هېواد دی، چې شمال لویدیځ ته له مالي، شمال ختیځ ته له نایجیر، سویل ختیځ ته له بینین، سوېل ته له ټوګو او غانا او سویل لویدیځ ته له (Ivory) ساحل سره پوله لري. نفوس یې (۲۰۳۲۱۳۷۸) تنه دی.

په بورکینا فاسو کې تر ټولو لویه توکمي ډله د خلک دي، چې په ۱۱ او ۱۳ پېړۍ کې په یاده سیمه کې استوګن شول. دوی لکه د او په شان پیاوړې پاچاهۍ رامنځته کړې. دا هېواد په ۱۸۹۶ ز کال کې د فرانسې د لویدیځې افریقا د برخې په توګه د فرانسې له لورې مستعمره شو، چې په ۱۹۵۸ز کال کې په فرانسوي ټولنه کې خپلواکه مستعمره شوه. په ۱۹۶۰ ز کال کې یې د ولسمشر په مرسته بشپړه خپلواکي تر لاسه کړه. په لومړیو کالونو کې د بې ثباتۍ، وچکالیو، قحطۍ او فساد ښکار وه. په ۱۹۶۶، ۱۹۸۰، ۱۹۸۲، ۱۹۸۳، ۱۹۸۷ ز کلونو کې په کې بېلابېلې کودتاګانې پېښې او په ۱۹۸۹، ۲۰۱۵ او ۲۰۲۲ زکلونو کې په کې د کودتا هڅې وشوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توماس سنکارا پر هېواد باندې له ۱۹۸۲ څخه د ۱۹۸۷ز کال کودتا کې د وژل کېدلو تر وخته پورې واکمني وکړه.

د يادې کودتا مشري کوله، چې له بريا وروسته ولسمشر شو او د ۲۰۱۴ ز کال د اکتوبر پر ۳۱ نېټه له واک څخه تر لرې کېدلو پورې يې پر هېواد حکومت وکړ. سنکارا د لوړې هيلې يوه تولنيزه اقتصادي خپرونه پيل کړه، چې د لوست يا سواد يوه ملي مبارزه، بزګرانو ته د ځمکو بيا وېش، د اورګاډي د پټلۍ او سړک جوړېښت او د ښځينه جنسي الې د پرېکولو، د زور ودونو او په يوه وخت کې له يو څخه زياتو مېړونو سره د واده له قانون څخه سرغړونه يې راونغاړله .

ياد هېواد د ۱۶۲۶۶ بېليون امريکايي ډالر ناخالص کورني محصول په درلودلو سره يو وروسته پاتې هېواد دی. ۶۳٪ وګړي يې د اسلام او ۲۲٪ يې د عيسويت پيروي کوي. د فرانسوي استعمار له امله د هېواد د حکومت رسمي ژبه او سوداګري فرانسوي ده. ۵۹

